# د ملا امیر دیوان




ترتیب
د محمد معصوم هوتک

اوکویل ـ کاناډا
مارچ ۲۰۰۶ ع

Ketabton.com
www.hotakonline.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملاامیراودیوان یې

دملاامیرددیوان دغه نسخه ،چي مادچاپ له پاره تیاره کړه ، ماته د ۱۳۲۵ ش کال په سر کي په کندهارکي لاس ته راغله اوترکتلووروسته یې راته ځرګنده سوه چي دانسخه داروانباد حاجي دوست محمدبړېڅ له کتب خاني راوتلي وه[1] .حاجي صاحب مرحوم پخپل قلم ځای ځای د شاعرنوم دنومړي خطي نسخي پرځنډوکښلی و[2].

دملاامیردیوان دحجم له مخي وړوکی دیوان دئ او(۸۰) غزلي او نظمونه لري خودالفبې دتولوپتیوغزلي پکښې سته . دپای پاني یې د (یاء) ردیف ته رسېدلي دي خوځوپاني یې کنډودي . مادانسخه تر موندلوځومیاشتي وروسته دزېري په جریده (د۱۳۲۵ ش کال ۹ ــ ۱۰ ګڼه) کي معرفي کړه اودهغي لیکني لنډیزدلته مکررانقلوم:

---

[1] حاجي دوست محمد برېڅ دسراج الملت والدین امیرحبیب الله خان دپاچهۍ په دوهم کال (۱۲۸۲ش ) په کندهارکي زېږېدلی اودظاهرشاه دپاچهۍ په شپږدېرشم کال(۱۳۴۸ش ) په کندهارکي وفات اوپخپله پلرنۍ هدیره کي ښخ دئ. پلاریې قیام الدین خان اونیکه یې محمدیوسف اخوندزاده نومېدی. دحاجي دوست محمد برېڅ پېشه سوداګري وه اودځورلسمي هجري شمسي پېړۍپه دېرشموکلونوکي یې د کندهار د شاه بازارپه ختیځه راسته کي دپوښلي چارسوشمال ته دخارجي بوټونوپلورنځی درلود. حاجي صاحب په پښتوژبه دنثرپه برخه کي قلم چلاوه اویوه غني کتابخانه یې درلوده چي د پښتووپاړسي وعربي ژبو خطي نوادریې پکښې خوندي کړي وو. دده کتابتون په کندهارکي داروانبادمحمدحلیم سلیمي (۱۳۸۴ ش مړ) ترکتابتون وروسته دخطي نسخودکیفیت اوکمیت له درکه مشهوره کتابخانه وه . دبایزیدروښان نوې موندل سوې رساله ، چي دعلم درسالې په نامه په ۱۳۶۴ ش کال داروانبادسرمحقق دوست شینواري په سریزه او سمون په کابل کي خپره سوه ، دحاجي دوست محمدبرېڅ له کتابتون څخه راوتلې وه . دحاجي دوست محمدبرېڅ زوی نوراحمدبرېڅ هم دپښتو ژبي لیکوال او دطلوع افغان اخبارپرکاره قلمي همکارو. نوراحمدبرېڅ په ځواني کي مړسو (دی بایدله اروانبادپوهاندډاکټرنوراحمدبرېڅ سره مغالطه نه سي ).

[2] زه (هوتک) دنومړي لیک دده دکتابتون دنورونسخودکتلوله خاطره پېژنم اوزماپه کتابتون کي دحاجي دوست محمدبرېڅ په قلم داخونددروېزه دمخزن الاسلام ځیني برخي سته چي دخپل کتابتون دیوې نسخې اوداروانبادسلیمي دکتابتون دکومي نسخې ترمقابله کولووروسته یې یادابنت کړي دي. دحاجي صاحب مرحوم لیک په نسبتاً ښکلوخطونوکي راتلای سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاامیردخورلسمي هجري قمري پېړۍ په سرکي په کندهارکي يوله هغوشاعرانوڅخه و ، چي مردف دېوان يې درلود اوشعرونه يې دخلکو خولوته لوېدلي وو. هسي خوپه پښتنوشاعرانو کي مـــورډ ( امير ) او ( اميرمحمد ) په نامه څوتنه پېژنو،خوپياوړي محقق پوهاند عبدالشکوررشاد د پښتانه شعراء په دريم ټوک ( ۸۲۷ مخ ) کي د امير په نامه يوشاعرمعرفي کړی دئ ، چي زموږتربحث لاندي ملاامیرسره يې ځيني ګډ وجوهات سته . دی ليکي : " اميرپه ختهٔ پوپلزی و ، د کندهاردتلوکان[3] په کلي اوسېده دده دپښتو مردف دېوان شته او د پاړسو اوعربي دېوانونودلرلوپه باب يې هم خبري کيږي .... دده ژوند د ۱۲۹۱ هـ ق کال[4] په حدودو کي تاکلای شو اوعمريې تر۹۵ کالو پوري رسېدلی دي . له دېوانه څخه يې معلومېږي ، چي د ژوند وروستي کلونه يې په ګرش ( هيلمند ) کښي تيرکړي دي " .

ددغي ليکني په استناد د (( فرهنګ زبان و ادبيات پښتو )) محترم مولف هم دده يادونه کړې ده. په پښتانه شعراء کي دامير دکلام د ( ی ) رديف څلور پښتو بيتونه خوندي دي . زه په غوڅه توګه حکم نه سم کولای ، چي ( امير )او ( ملاامير ) به يوسړی وي. د ( امير ) په باب خو لوی محقق پوهاندرشادليکي ، چي ظريفه او شوخه طبعه يې درلوده. د ملاامیرپه دېوان کي مادظرافت اوشوخۍ صريحه نمونه ونه موندله . خو دعصر او وخت نزدېوالي اود اوږده عمر تېرول او د ملاامیرپه

---

[3] تلوکان دکندهاردپنجوايي ولسوالۍ مربوط کلی دئ،چي دکندهار ښار لويديځ لورته پروت دئ. شاوخوايې دانګوروباغونه دي. دپښتواوفارسي ژبي شاعراو د تاليفاتوڅښتن ساګزی ملاحسن اخوند( ۱۱۷۷_۱۲۴۵ هـ ق ) دهمدغه تلوکان دئ. فارسي دېوان يې چاپ سوی دئ.زما ( هوتک ) سره يې يوه ښکلې قلمي نسخه سته ، چي دهرات دنائب الحکومه سعدالدين خان د زوی عبدالعلي خان (خان آغا ؟ ) په پرمايښت د (( محمد رحيم الکوزي قندهاری الاصل ساکن هرات )) په قلم ليکل سوی دئ.

[4] دغه کال په پښتانه شعراء کي ۱۳۹۱ هـ ق راغلی دئ ، چي چاپي غلطي ده. دغه غلطي زما په پورتنۍ مقاله کي ، چي په ( زيري ) جريده کي خپره سوې ده ، بياتکرار سوې ده. د مقالې ترچاپ وروسته ما اوفاضل استاد په دې باب خبري هم وکړې او ماوعده ورکړه ، چي دغه غلطي به يو وخت سموم. دادئ اوس ( اووه ويشتمه دمارچ ۲۰۰۶ ع ) مي خپله ژمنه پوره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېوان کي د ( نهرسراج ويالي ) يادونه[5](۱) بياهغه وجوهات دي ، چي ددوی ترمنځ شريک دي. د اوسنيو ماخذونو ، روايتو او دېوان څخه دا فيصله ګرانه ده ، چي (( امير )) او (( ملا امير )) به يوشاعروي. په هر صورت زه اوس دی د (( ملا امير )) په نامه دموجوده دېوان له مخي تاسي ته درپېژنم اودېوان يې درته معرفي کوم. نوره څېړنه به راتلونکي ته پرېږدو . ګوندي داسي مواد لاس ته راسي ، چي ددې موضوع له سپينېدو سره مرسته وکړي.

زمادکتابتون په خطي نسخوکي دملاامیردیوان سته،چي نوم يې (( مخبر العشق جديدی )) پرايېښی دئ . ديوان مردف اودپای له خوانیمګړی دئ. دوروستۍ پاڼي رکاب يې ( ځمامقصود ) ليکلی دئ ، چي داکلمات دراتلونکي مخ دلومړي بيت شروع ده . نسخه پرعادي کاغذ په توره سياهي ليکل سوې ده اودډېر بي سليقي او بېسواده کاتب کارمعلومېږي. څرنګه ، چي دېوان نيمګړی دئ ، دکاتب نوم اود ليکلو کال يې نسته . ددېوان پرځنډو څوځايه ۱۳۲۷ او يوځای ۱۳۲۸ کښل سوي دي. نه پوهېږم ، چي دابه دليکلوکال ياکلونه وي که يا؟ د دېوان ټولي غزلي اتياوو ته رسيږي اود(ی) رديف هغه څلوربيته ، چي د پښتانه شعراء په دريم ټوک(۸۲۷مخ) کي خوندي دي ، ، دلته نسته. که ( امير ) او ( ملاامير ) يوشاعر وي ، نوښايي دغه بيتونه به په هغو پاڼوکي وي ، چي ضايع سوي دي. ددېوان پيل داسي دئ:

له بسم الله وروسته. هذا كتاب مخبرالعشق جديدی.

نن مشغول سه په الحمد و پـــه ثنا        په دهان کښي دي چليږي ژبه ستا

[5] دنهرسراج دويالي يادونه زه پردې خبره دليل بولم ، چي ملاامير په هيلمند کي هم استوګنه کړې ده او احتمالا په (( ګرش )) کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هربنده لـــــــره لازم ثناګویي ده　　　په قرآن کښې بیان کړی پاک مولا

++++

له دیوان څخه یې مادده دژوند په باب زیات مشخص ټکي ونه موندل. دامیرحبیب الله ( ۱۳۱۹ـ۱۳۳۷ هـ ق ) یادونه یې ثوځایه کړې ده:

دسراج الملة والدین نبـــــــه دبدبه ده
ملاامیردده دوعاګوی[6] نه دفرنګ یم

اویا:

ډېردي عـــــــــــمر دامیرحبیب الله وي
ترســـايه لاندي ناست امتیان ستا محمده
تل مشغول دقندهار پــــــــــه آبادي ده
اوس مشغول پـه نهرسراج نهراعلی محمده
نهرسراج به خدای معمورکه وخت نژدې دی
ملاامیرفقیردوعـــاګوی ده هرصبا محمده

دنهرسراج واله ( ویاله ) په ۱۳۲۵ هـ ق کال دهیلمند له رود څخه افتتاح سوه[7]

ددېوان د ( ب ) ردیف دیوې غزلې مقطع داسې ده:

دیارلس صدی هـــــــم شپږویشت کاله
ووتېرشوي ملاامیر بیان کوي له هره باب

[6] (( دوعاګوی )) باید دوې ځپې ولوستل سي.
[7] حبیبي ـ عبدالحي پوهاند ـ دافغانستان تاریخي پېښلیک ـ ۲۲۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیارلس سوه شپږویشت هـ ق کال دامیرحبیب الله دپاچهۍ اووم کال دئ . له دي تولو خبروڅخه څرګندېږي ، چي دامیرحبیب الله دپاچهۍ دوران دملاامیر د شاعرۍ د اوج زمانه ده . په دغه وخت کي دی سپین ږیری دئ ځکه وايي:

ملاامیرپه سپینه ږیره تل ژړاکړي
راشه زماپرغریبۍ وکړه پـوښتنه

++++

اشعاريي دده پرعلم او پوهي باندي شاهدي ورکوي . دتصوف خوايي درنه ده . اخلاقي شعرونه هم لري . له اشعاروڅخه يي معلومېږي ، چي ملاامیرپه سلوک کي دنقشبندیه طریقي پیرو دئ . دسلوک اوسیر پړاوونه داسي بیانوي:

د وحدت له باغه درخته راښکاره شوه
نه يي مثل پـــــه زمين لکه نشتر و

.........

دتوحیدترسوزن ووزه که یکتا يي
که دوتا يي ځان یکتاکړه یک بشر

......

محبت دخدای نـــــهال پرخپل زړکي کړه
اوبـــــــــــوه يي په چشمه د شـــریعت
اســـــــم ذات د زړه صیقل د سالکانو
تصفیه د زړه راځي پـــــــــــه طریقت
بیابه کشف و کـــــرامات درته حاصل شي
پوشیده لـــــــره داحــــــال د حقیقت
معرفت مي شناخت دخدای پرخپل طاقت ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



(( ملاامیر )) تعریف کـــــــــوي دمعرفت

په دېوان کي يې يوه تقريبا بشپړه فارسي غزله اوڅوشير وشکر بيتونه سته. فارسي شعر يې دټيټي سويې شعردئ او خوندورنه دئ. ٌ

+++++

+

دادهغي ليکني لنډيز و ، چي ماشل کاله وړاندي دکابل په زېري جريده کي خپره کړې وه[8](۱). تردي وروسته مي ددېوان قلمي نسخه د چاپ له پاره تياره کړه. اودتيارسوي متن يوه برخه مي ( دٌ قٌ تررديفه ) پخپل خط په يوه جلاکتاب کي پاکنويسه کړه اونورکارله ګران هيواد څخه دراوتلوله اسيته نيمګورپاته سو . دامتن اوخطي اصل يې له هيواده راته زماموركراچي ته راورساوه اومابياله ځانه سره کاناډاته راووړ(۱۹۹۲ ع ) . سږکال مي دکاغذوله منځه دامتن راوايست له سره مي وکوت اوکمپيوټري چاري مي يې بشپړي کړې اودخپلو هغو ليکنو په تاخچه کي به يې کښېږدم، چي زماناچاپ آثاردچاپ په انتظار پکښېي پراته دي.

دنوي کتني په ترڅ مي لازمه وبلل داڅوټکي نورهم پرخپله پخوانۍ ليکنه باندي ورزيات کړم:

ملاامیردمتوسطي درجې ملا ، دټيټي سويې شاعر، دلوړجوش و خروش مخلص سالک دئ اوپه سلوک کي دنقشبنديه طريقي لاروی دئ. دېوان يې له يوڅوغزلوپرته نورټول دسيراوسلوک مسئلوته وقف کړئ دئ اودتصوف غامض اوپېچلي موضوعات يې په ډېرساده

---

[8] دنوموړي مقالې بشپړمتن زمادناچاپه اثرٌ کچکولٌ پهلومړي ټوک ۳۲ مخ کي خوندي دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعرکي بیان کړي دي .دده شعرله لويه سره هم فوق العاده ساده اوله هنري مزيته خالي دئ اوفني کمزورۍ،قافيوي نيمګړتياوي اودوزن ناهماهنګی يې دلوستونکي مخي ته ډېري راځي،خودتصوفي اړخ زياتوب يې دشعري قابليت د نه وړتيا له امله دشعر خوند ورنګ نور هم ورپیکه کړئ دئ . ده ته خپل شعرکله کله دومره لوړښکاره سوی دئ چي وايي " پخته کار سالک " به يې په بيان پوهېږي ( د " ن " رديف ) خو حقيقت دادئ چي دده په شعرکي مفاهيم بيخي په ساده پيرايه کي بيان سوي دي .شاعرته دسيروسلوک اوطريقت پرورشوباندي ځان " بالغ " ښکاري اود " دستار " ترلوتمه لري ( د " ع " رديف ) خو ځای ځای بيا پخپله ورته ځان " ناقابل " ايسي (د " ف " رديف ) . شاعردسلوک دلاري خطرات هم له پامه نه دي اچولي اودآيات وحديث په استشهاد وايي چي په طريقت تربل هرمسلک د" ملحدی " خطره ډېره ده( د " ه "رديف ) . دی دخطرځای هم دخپلي تجربي اوپوهي له مخي نويو سالکانوته ورښيي ( د " ن "رديف ) .

شاعر غواړي دځينو کلماتو په راوړلوسره خپله تواضع اوانکسار تمثيل کړي اودځان له پاره د(کمينه ، دون همته .... ) کلمات کاروي خو ددغو کلماتو مروجي معناوي دعجزو انکسار ښکارندويي نه کوي ، بلکي استعمال يې دلاسه لا د شخصيت ددرناوی پله سپکوي.

دملاامیرپه دیوان کي ديولړتاريخي پېښويادونه سوي ده چي ماېي دلومړي وارمعرفی په ليکنه کي مثالونه راوړي دي اوتاسي يې يوه برخه وړاندي ولوستل ( دسراج الملت والدين اميرحبيب الله خان ، دکندهار دنايب الحکومه يادونه اودنهرسراج دوياڵي دکيندلوکار ) . ددي پر څنګ دی وطن ته دروسانودراتګ خبرداری اودهغوپه مقابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي دغزا اوجهادهخونه کوي ( د " و " رديف ) چي مادهمدې متن په (۲۱) مخ (۱) حاشیه کي تبصره پرکړې ده.

دملاامیرشعري ژبه په عمومیاتوکي دلویدیځي لهجې ځانګړتیاوي لري اوپه خصوصیاتوکي بیادهیلمنداوروزګان دشاوخوا پښتنوژبه تمثیلوي . دی ځای ځای دشعري اړتیاله اسیته د کلماتو وروستي حرکتونه غورځوي او" نعمتونه" د "نعمتون" په شکل کاروي.

داوه هغه ټکي چي یادونه به یې دملاامیردشعرپه پوهېدلوکي مرسته وکړي.

محمدمعصوم هوتک

اوکویل ـ کاناډا

۲۷ مارچ ۲۰۰۲ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

نن مشـــــغول شه پــــــــه الحمدوپه ثنا
په دهـــــــــــان کښي دي چلیږي ژبه ستا
هـــــربنده لـــــــــــره لازم ثناګویي ده
په قـــــــــــرآن کښي بیان کړي پاک مولا
صددرودوصدسـلامه دي انعام وي
له ماخــــــــــــواره امتي پرخپل پېشوا
هـــــم پرآل هـــم پراصحابو دده باندي
هـــــم پـــــــــــرواړه ګذشته ووانبیا
که ظاهـــــــــرباطن الف شوي مردانه یي
په لباس د (ج ) پـــــه پټ شي ســـــرتپا[9]
که د(ز )نسبت دي وکــــــــــړوخپل نفس ته
پردغـــه تقصیرهمېش کـــــــــــوه ژړا
نبه محکمه پیالــــــــــه نوش دقناعت کړه
بي صبري ده بدبختي لـــــــــــــویه بلا
شفقت دفقیروعـــــــــــظ ونصیحت دی
زیاتي نه لـــــــــــري قدرت دضرب پرچا
راشـــــــــه ونیسه محکم درباړمحکمه[10]
ځان ورګـــډ کـــــــــړه په مجلس داولیا
هرګناه لـــــــره زنګـــــــونه پرزړګي دي
آئینه دزړه لـــــــــه زنګه کـــــــــړه صفا
که صادق یي یک بیني یک جهتي کـــــــړه
دتـــــوحید پرلارتـــــلای نه شي دوبین بیا

9 سرتپا=سرترپا
10 دانیم بیتی کټ مټ ولیکل سو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګمراهـــــــــان دزمــــــاني ترحساب تېردي
(ملاامیره) کناره شـــــــه له هـــــــــــرچا

***

که ساقي راکه جـــــامونه دکــــــــوثربیا
پـــــــه کارنه لـــــــــرم دنیاو سیم و زربیا
هست مي ستا په هست موقوف ده فضل وکړې
پرخپل هست باندي دهست وکـــــــړه نظربیا
په نظردکامـــــــــــــــــلانومي منظورکړې
معتکف دي ددربار یـــــــــــــــــم هم ددربیا
ممکنات چي رب پیدا کــــــــړه په قدرت خپل
داهـــــــــــــــــمه دي نښاني دپیغمبربیا
هیڅ دحسن سیال (یې) نشته پـــــه دنیاکښي
سیالي نه که ستالــــــــــه رنګه شمس قمربیا
چي پیدا یې ستالـــــــــــــه رویه کل اشیاکړه
پاک الله پرتاعــــــــاشق ، تې[11] کړې اظهربیا
ودیدن ته دي محتاج شـــــــــــاه وګدای دي
که روزي مي ستادیدن شي پـــــــــه محشربیا
زه چي مست ورندانــــــــــــــــه دزماني یم
ډېرمستان رندانــــــــــــــه دي ستاددربیا
عشق دي هسي سرګردان کړم په عـــــالم کښي
نه پوهېږم پـــــــــه خپل نفــــــــع و ضرربیا
بې صبري مي شوه غالبه ستاپــــــه عشق کښي
قناعت پیاله که راکـــــــــــــــــړې پقدربیا
دهجران په اورمي مـــــــــــــــه سیځه صنمه
(ملاامیر) که مـــــــــــــفرح کړې په نظربیا

[11] تې = ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

صدقـــه شه صدقـــه شه دل وجـــان زما
تـــــردیدن وتـــــردیدن دخپل جانان زما
یـــودیدن وعاشقـــانــــولره بس ده
همېشه دوی ثناخــــــوان دي دخوبان زما
منتـــــــظرورتــــه ولاړدي بې اختیاره
که معـــــــمورشي په دیدن دګل ریحان زما
نه له سترګــــوغائبېږي نه په سترګوبرابرده
لاردعقل نشته چي خرګندبه شي سبحان زما[12]
هیڅ تعلیم وعاشقـــانـــــــووته نه شي
دواړه کــــــونه دي پرې ایښي پرجانان زما
شابس شابس دعــــــاشق پرهمت باندي
چي یک بین شـــــو یک جهته پرمیدان زما
(ملاامیر)غـریب دوبین دئ تي[13] یکبین کړه
رب کـــریم ده هم رحیم ده هـــم رحمان زما

***

چـــي طالب شــــــوم دمطلـــــــوب
په کـــال سلب شـــــوم مســـــلوب
هســـــــي رنځ رابانـــــدي راغـــــی
په مثـــــال لـــــکه ایـــــــوب
دعشــــــق دارنــګ ســـــخته زورده
بې بصرکئ[14] عشــــــــق یعقـــــوب
که معشـــــــوق هرڅوجفـــــاکــړي

---

[12] ددې بیت خپې د غزلي دنوروبیتودخپو پرپرتله زیاتي دي.
[13] تي = ته یې
[14] کئ = کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وعاشـــــق تـــــه وي مرغـــــــــوب
عاشقـــــان چـــي همېـــــــــش ژاړي
بیمـــــــاران دي پـــــه مقـــــلوب
لــــه دې رنـــــځه به روغ نــــه شـــي
بـــــې دیـــــداره د محـــــبوب
د عشـــــق هســـــــي غـــــالب کار ده
خــــوار عاشـــــق کاندي مغلـــــوب
پختـــــه کـــــار عاشـــــق هغـــه ده
چي خپـــل عشـــق کانـــــدي محجوب
کــــه مخلــــوق تې عشـــق ظاهر شـــي
ښـــــه یـــــې نه بـــــولـــي کتُـــب
ربــــه عشـــق مي پوشـــــیده کړې
هـــــم پر شـــــرق هـــــم پر غــــروب
لـــــه نقصــــانه عشـــــق نګـــــاه کړه
نفـــــس حـــاضره پر شمال هم پر جنوب[15]
مـــلا امیــر غریب بیــان کوي له عشقـــــه
په مثــــال لکـــــه مرغــــه اخلـي حبوب[16]

***

له کاملـــــه پیالــــه نوش کـــــه په شتــــاب
پرهېزي شــــه لــــه ګنــا کـــه اجتنــاب
خپـــل باطن کـــــړه پاکـــــیزه له هره خُبثه
ځان لایــق کړه چـــي منظور شـــې دا حبـاب
بعضـــي خلـــــګ په ظاهر ډېر آراستـــــه وي
په باطـــــن کي خباثت وي بـــــې حســـــاب

15 دانیم بیتی څلورخپې زیات دئ
16 حبوب = داني . جمع یې حبوبات دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بعضـــي خلګ په باطـــن ســـم آراسته وي
په شـــريعت[17] وي هم ملامت هـــم په کتاب
دغه دواړه نقصـــــاني پـــــه آخـــرت وي
چي حاضر شي په ميدان د ســــــوال جواب
بختور ده چي ظاهــــــر باطـــن (يې) د واړه[18]
بـــرابر د شريـــــعت شــــوه د وهـــــاب
راشــــــه ټينګ پر شريـــــعت شه که دانا يې
په شريـــــعت به مفتوح شــــــي د جنت بـاب
که څراغ د شريـــــعت خــــداى په لاس درکړ
وبـــــه نور ته يې عـــــاجز ماه و آفتــــاب
هغــــــه څـــوک چي ردوي حـــکم د شـرع
خــــلاص به نـــه شي د دوزخ د سخت عذاب
پټ پنهـــــان له خپله خدايه مشغــــولا کـړه
د صديـــــق د سينې بـــــوى تـــئ[19] د کباب
کامــــلان مي غوصـــان د عشـــق دبحـــردي
ځان جهــــان وځني هبر غـــــرق په دريــاب
پيروي د کامــــل وکړه که صـــــادق يـــــي
زموږ په لاس ده د قــــرآن محکـــــم تنـــاب
ديارلـــس صدي شپږويشت کـالـه وو تير شوي
ملا اميـــر بيـــان کـــوي لــــه هـره بــاب

***

که وصال دجانان غـــــــــــواړې په قيامت
په اخلاص وپــــــــه تصديق وکــــړه طاعت

---

[17] شريعت دلته دعوامو په شان دوه څپه ييز بايد ولوستل سي.
[18] اصل: هغه بختورده چي ظاهرباطن دواړه
[19] تئ = تلئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مجلس د دلبرانو به ورګډ شي
که دي ترک کړ د دنيا زېب وزېنت
بې بقاده دا دنيا هيڅ باور نشته
په مثال لکه تېزباد ځي په سرعت
په دنيا پسې هلاکه زمانه ده
ابليس کاندي حرص غالب ترقناعت
دانايان مې دي مشغول ديار په مينه
پروانه که د دنيا په زيان کثرت
اولياء خداى نازولي په دوه کونه
ښه ديدار به ورعطا کړي هم جنت
توکل مو پرخپل خداى زموږ مومنانو
بې له خدايه تکيه نشته د راحت
ښه تقوا وهمت خوى د مسلمان ده
د شيطان تابعان ډک په خباثت
امان راکړي دابليس د بده خويه
دده خوى ده ګمراهي بل فضيحت
مقصود د تينګ کړه سوا پرېږده[20]
رضاجوى شه د ښه خداى هم د حضرت
محبت د خداى نهال پرخپل زړګي کړه
اوبه يې په چشمه د شريعت
اسم ذات د زړه صيقل د سالکانو
تصفيه د زړه راځي په طريقت
بيا به کشف وکرامات درته حاصل شي

[20] دانيم بيتى څلورځپي کم دئ.
سوا = ماسوا . او ماسوا د خداى تعالى له ذات پرته نورو موجوداتو او مخلوقاتو ته وايي ( غياث )

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوشیده لــــــره داحــــــــال د حقیقت
تـــــــرعرش پـــــورته دي اویازره حجابه
داخل کېږي عــــارفـــــــــان بلند همت
معرفت مي شناخت دخدای پـــرخپل طاقت ده
(ملا امیر) تعریف کـــــــــــوي د معرفت

***

خوار عاشقه معشوق گوره که لـــرې استقامت
نن دي وارد ئ که پوهېږې د قـــــرآن په تلاوت
عوام خلق دي مجلس د علـــــــماوفقرا کړي[21]
له تاثیري[22] پیدا کېږي تـــــــوانګري وقناعت
کـــه راه رویې ســـــــم پرلار د شریعـــت شه
رهروي بـــې شریعته دئ سالک له[23] قبـــاحت
ملحـــــدان په زمانه کـــي هســـــي ډېر دي
هیڅ خبـــر په شرع نه وي نه په تـــرک د جماعت
موحدان مـــي مستقیم همېش پـــرجماعت وي
له بنه خدایه وي ترسان هـــم له عذابه د قیامت
په لبـــاس د حلـــــم پټ شه ســـر تر پایـــه
د حلــم لباس دئ هرمومن له مرتبه د شرافـــت
حـــلم خوی د انبیأ و اولیـــأ دئ کــه خبر یې
قـهرغضب خوی د شیطان دئ نه دئ خوی د ولایت
غـافــلان د یاره ذکره، نقصاني په دواړو کونو
عاشقان صفت گویان د دلبرانو په دنیا هم آخرت
که تــــــر عرش و کرسي لـــویه دي سینه شوه

---

[21] اصل : عوام خلق دي مجلس د علماو فقرا کړي په هردم.
اوترلاندې بیاورته کښلي دي: د عالم مجلس کوه که ته دانایې

[22] له تاثیري = له تاثیره یې

[23] سالک له = سالک لره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوا ءالله به هسي غرق سي لکه فرعـون هم جاهت[24]
(ملا اميره) پر عمل هيڅ تکيه مه کړه فضل غواړه
دغه لوی فضل عظيم دئ چي يې درکړ هدايت

***

د خوبانـــــو سردار تئ[25] پاس پر اسمان خوت
تېر تر عـــرش و تر کرسي پر ښتن ګران خوت
چي مشـــــغوله پــــــه صلوت طيبات شو
هر ګفتن يې درمرجـــــان تـــر ښه دهان خوت
د امت غـــــم يې زرغــــــون پر پاک زړګي و
هېر يې نه و چي دربار تـــــــه د سبحان خوت
پــــــــر دربار د حق تعالی يې قـــدر ډېر دئ
وربخښلئ يې امت نـــــاز يې چـــــلان خوت
ګفتګوی د ګــــــوی مګوی يې سره وکـــــــړ
ګـــــــوی بيان د شريعت دين يې روښان خوت
د مګـــــــــوی خبري پټي له هــــــــر چا دي
پاک حبيب رب منع کــــــړئ ډېر يې زيان خوت
طی شــــوه نه فلک اتلس کالـــــــه يوه شپه وه
بې مثاله ښه مجلس د دوی تــــــــر ميان خوت
پنځه فرض لـــــــــــمونځونه شب و روز شول
که چا تـــرک کـــــــړه آخرت لري[26] تاوان خوت
پنځه فـــــــــرض[27] چي ادا پـــــه جماعت شي
خدای رسول به شي راضي دی پـــه نېکان خوت
مومنانو امــــــــــر ونهي تول پـــــــر ځای کړئ

24 جاهت:
25 تئ = تلئ (دکندهارکړدود)
26 لري = لره يې، ته يې
27 فرض کلمه دلته دوې څپې بايد ولوستل سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نصیحت د ( ملا امیر ) پـــــــر دل و جان خوت

***

زمـــــــوږ و تا ته دی ســـوالونه یا مغیث[28]
له تا غــــــواړو ډک جامــــــــونه یا مغیث
حاجتمند درتــــــــــــه ولاړ دي بې شماره
فریاد رس یې، له تا غـواړي حاجتونه یا مغیث
حاجت زمــــا ده ستا رضا پـــــه دواړو کونو
د رضا دي طلبګار یــــــم په عمرونه یا مغیث
هیڅ مقصود مي په ظاهـــــــر باطن بل نشته
ستا رضا ما خلاصوي له هـــر غمونه یا مغیث
ربه قطع انتظار د خــــــــوار عاشق کـــړي
رحم وکـــړه دیدار وکړه ته پر وکړه کرمونه یا مغیث
هر عــــــــاشق چي وي صادق په محبت کښي
تر چشمانـو یې خو ناب وهي موجونه یا مغیث
و خپل یار ته ســـل نظره د عاشق وي په هر دم
یـــو نظر یې ستا دوا دئ د زخمونه یا مغیث
رد ، قبول دواړه مـــــوقوف ستا په رضا دي
و بنده تــه څه معلوم دي ستا حکمونه یا مغیث
مـــــومنان مي مقبولین پــــه دوه جهان کښي
د تقوی توکل ډېر دي اجرتـــــــــونه یا مغیث
بنه خلعت خدای د ایمان و مـــــوږ (ته) راکړئ
موږ پـــــر دا خلعت همېش کړو شکرتونه یا مغیث
پاک قرآن دي راستولئ لـــــــــوی انعام ده
پکښي ډېر د حل حــــرمت دي بیانونه یا مغیث
زموږ ایمان پر پاک الله هم پر قرآن هم پر رسول ده

---

[28] مغیث ( دمیم په پیښ ) فریادرس ، هغه ذات چي فریادورته کبړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د(ملا امیر) پر زړه ډیر د عشق داغـونه یا مغیث

***

په کـــــوڅـه کې دي ولاړ دي رقیبان کج
همېشه راتـــــه قـــــهرېږي غمازان کج
جنګ جـــدل مې له خپل نفسه شب و روز ده
بل پــــر ځنګ راتـه ولاړ ابلیس شیطان کج
په خپل فضل دي اسباب د جــــهاد راکړ
په اسم ذات ســــره وهـــمه کافران کج
د مومن زړه مې تـــــرعرش عظیم لوی ده
اته برجـــــه پر ولاړ دښــمن حیران کج
روح بادشاه عــــــقل وزیر ده که یې ګوري
نفس شیطان ورتــــه ولاړ دي پر میدان کج
ښه تقوی و همت وکـــــــړه مدت ورکړه
اته برجه کـــــــړه محکمه له نقصان کج
بیغمي هیڅ پــــه کار نــه ده د دښمن دار له[29]
د جــــــرس په شان بیدار شه هم نالان کج
که غافــــــــل شوې له طاعته له اذکاره
وبېرېږه لــــه دوزخـــه لـــه نیران کج
محکمې دا اته برجـــــه پــــه طاعت وي
د غافــــل روح (مې) بندي ده د شیطان کج
سنګـــــــدلان چې ببدیني که سبب دا ده
د معصیت پــه رنګ یې رنګ ده دل و جان کج
هغه څوک چې تـــوبه ګار شي زړه یې پاک شي
رب غفور ده هـــــــم رحیم ده پر عصیان کج
هـــر مومن چې توبه ګــار د ما مضی[30] شي

[29] له = لره

(c) ketabton.com: The Digital Library



له آینده و ځـــــان ساتي له هــــــر زیان کج
اول ځان تـــــــه نصیحت کـــړم بیا و بل ته
(ملا امیر) بیان وکـــړئ[31] د هــــــــر تاوان کج

***

عــــاشقان سینه سوزان غـــــواړي قدح
ودربارته دي ولاړنــالان ګـریان غواړي قدح[32]
هـــــرعاشق چي دهجران تـــرمقام تېرشي
ګـــــــویانوی شـــوپیدا ،وایـــم نشرح[33]
بې صبری راخخه هېرصبرسکـــــون کـــړ
اوس له ډېري تلـــــــوسي شوم سینه شرح
په باطن کي دریاب پـــــه جوش خـــروش ده
پټ پنهان[34] یم پکښې غـــرق زه یـــم فرح
خامکاران دي زیانکاران تـــرهـــغه وخته
چي تمیزورمعلـــــومېږي دنیکی هم داقبح
چي آهن رنګه جـــــــوش ونه که په اورکښي
یوه کیلي کله جوړېږي چي بـه قلف شي په افتح
که دعشق په اورکښي نفس سوخته پخته کړي
دزړه نوربه دي شي پورته کل زمین کاندي اوضح
شریعت درســــــول باغ زه یې باغبان یــــم
(ملاامیر) بې ډنګوي هـــم په ضمني هم په صرح

***

دفراق زهرمي نــــــوش کـــړي زړه خوله تلخ

---

30 مامضی : تېرسوی وخت
31 وکئ - وکړئ
32 داغزل ډېري قافیوي نیمګړتیاوي لري.
33 نشرح یوراز نظم دئ ،چي دهلک دزېرېدلو پروخت دخوشالی په خاطر په ډله ییزه توګه ویل کېدئ.
34 اصل : پټ پنهم ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما مزاج شو هفته يي لکه د بلخ[35]
ستا وصال زما دوا د هر مرض ده
په کار نه لرم دوا د هند او جلخ[36]
د وصال کوڅه دې کوڅه دې خلاصه جانانه
رقيبان په مخه را غلل لکه ملخ
او س حيران يم چې پر کمه به تېرېږم
لا ر به خلاصه په غره شي که په سلخ[37]
هسې ګرم ده بازار د عاشقانو
سوړ به نه شي د سياه بند په يخ کلخ[38]
و عاشق ته يې ژړا په برخه ورکړه
تل به ژاړي چې په زړه يې خنجر خرخ
هر ګياه مې په باران خوشحالي کاندي
(ملا امير) ده ډېر خوشحال په برف پرخ[39]

***

مورو پلار و ته هيڅ مه ووايه پوچ
مرتبه به دې کمتره سي ترمچ
پاک سبحان يې بيان کړی په قرآن کښې
دوالديـنو دئ حق ډېر و با سه غچ
بيا مې حق د استاذانو ده بې شماره
ښه محکم يې تينګ وه لکه سپين ګچ
بيا حقونه په هر چا د علماوو

---

[35] وايي د بلخ هوا يوه هفته سړه بله توده وي. دلته دغه ټکي ته ضمني اشاره ده.
[36] په اصل کې ( جلخ )ته کښلي دي: نام وطن است
[37] غره د مياشتي لومړی ورځي ته او سلخ د مياشتي وروستۍ ورځي ته وايي.
[38] په اصل کې ( کلخ ) ته کښلي دي: سردی سخت
[39] اصل : فرخ . خوښګ ته يې بياورته کښلي دي: فرخ شبنم را ګويند. شبنم ته خو په پښتو پرخه وايي او دلته يې د شعري ضرورت له امله ( پرخ ) ليکلی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنبي مـــــــيراث يې ورې دئ پـــــه پچ
يو مومن پـــــــربل مومن لــــــري حقونه
نبه محبت سره كـــــــــوئ شيطان كه تـــچ[40]
له كفاروبــــــــه همېش منازعـــــه كـــړو
له كفاروســــــره دئ زمـــــــــوږ دين غچ
كه خپل شيخ كه دبل شيخ ته دست بـوسي كړي
تاله فيض وبركت لاس يې كـــــــــــړه مچ
تركـــــــــوه خپلـــــــه رضادبل دپاره
د مومن وزړه تـــه ګـــــــــــــوره نه يې لچ
(ملا امير) فقيركه هـــــــــرخونصيحت كړي
دانايان خداى پـــــوهولي دجاهلوده خوله وچ

***

كه مـــــــــرګى درلــــــره راغى ژوندون هيڅ
كه وصـــــــــال درلـــــــــره راغى بېلتون هيڅ
دانايان پـــــــه قيل وقال ډېرخـــــوشحالېږي
وجاهل ته قيل وقــــــــال مرګ ژوندون هيڅ
كه طاعت دي پـــــــــه مثال ريګ بيابان شي
په ريابـــــــه شي برهـــــــم لكه ګلون هيڅ
ځان صدف رنګه صفا كړه پــــــه درياب كښې
بې دريابه سنګ كلوخ هـــــم سفالون[41]هيـــڅ
درقيمت دئ پيدا كـــــــړى پـــــه خپل صبر
بې قيمته پيسې ډېـــــــري دميسون[42] هيـــڅ

[40] تچ : دغوزارېدلو ، لوېدلو آواز ( پښتوپښتوتشريحي قاموس ) . دلته به دغوزراولوپه معنا راغلى وي

[41] سفالون = سفال = كودري

[42] ميسون: په معنايې پوه نه سوم. ښايي دمسيون = مسيو = ښاغلى اړول سوى شكل وي. دشاعرپه وخت كي ځيني اروپايي اصطلاحات ( انګرېزي او فرانسوي ) افغانستان ته رسېدلي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مجنون د عشق خبري چي باقي دي
ځني ورک ځان و جهان و هم سکون هيڅ
که مجنون غوندي صادق يې نن دي وارده
دليلی د وصال غم خوره نورغمون هيڅ
هر عاشق په خپل معشوق پسي مجنون ده
که معشوق وفاونه کړه شواخون هيڅ
که عاشق يې پيروي د پاک قرآن کړه
بې له خدايه بې رسوله نورحبون هيڅ
(ملاامير)[43] چي همېش ژاړي مراد يې ته يي
بې له تا دي تول باطل واړه سمون هيڅ

***

د مخلوق په صفت مه شه ارجمند
ګمنامي کړه چي دي رب کاندي پسند
که هرڅو لذيذ طعام و خوري بې ياره
هيڅ به درنه کړي په خوله وزړه کښي خوند
په مجلس کښي د اشرافو به ادب کړه
خبردار شه چي اوازنه کړي بلند
حرکات و سکنات که کلمات وي
په ادب کښي احتياط کړه که يې هوشمند
بندوبست د آخرت کړه که دانايي
په کارنه ده د دنيا د بربست وبند
پر دنيا به پاته نه شي هيڅ وګړی
که د مت حکم پروشي د خداوند
د طاعت دي خدای درکړي اسبابونه
نفس بندي کړه د طاعت په لوی کمند

43 اصل: ملاامیرمحمد. مادوزن دوارنی له خاطره ونه کیښ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځــان محکم کـــــــړه دخپل رب وبندګۍ ته
په عقبا بـــــــه نیک وبدشي درڅـــــــرګند
بدبختۍ غلبه کـــــــړي پرهـــــــــــــرچاده
(ملاامیره )ځـــــــان ساته له مکر وپنـــد[44]

***

څـــوک بندمه شه ددنیاپـــــــه زیان وسود
خپل دلبرلـــــــره ورتګ تاله بهـــــــــبود
پایمال کـــــــړي عاشقان جـــــــفادترکو
زه پایمال یم هـــــــم اسیریم هـــــــم مفقود
محصل دمـــــــــــرګ که درشي سهل کارده
نه چي درومي تراســـــــــمانه دعشق دود
بي وصاله څــــــه ژوندون بندګي نــــــه ده
دوصـــــــال دپاره ړده ســــــــرپرسجود
که دعــــــجربندګي کـــــــړه خدای قبوله
ستادرون به شي خوشبوی تـــــرلونګ عود
په هــــــرغـــــــم پسي بنادي ده آیات ګوره
پاک خلیل شـــــــوپه امان غـــــرق شونمرود
ســـــــــودله خدایه زیان له نفسه پیداکیږي
په سبب دنفس هـــــــــلاک شوه عادثمـــود[45]
سخته روځ دآخـــــــرت زموږپــــــــــه مخه
اوس بایده دي استـــــــــغفارویـــــل د درود

---

[44] په دې نیم بیتي کي(پند ) دنصیحت په معنانه دئ راغلی، بلکي (مکروپند ) دواړه اصطلاحاً دچل وفریب په معنا راغلي دي.

[45] اصل: په سبب دنفس هلاک شوه عادیان هم ثمود.

عاد و ثمود: عاددسام بن نوح(ع) له نسله وه .ددوی له پاره خدای تعالی هود(ع) ورولیږه خودنافرمانۍ له اسیته دبادپه توپان هلاک سول اوثموددحضرت صالح (ع) امتیان وه . وایي دوی دنافرمانۍ له امله ټول وسوځېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شب وروزده کـــــوچ وباردښـــــونیازمنو
لکه کوچ کـــــوي سحاب پـــــه بهارزود
دغج جهازراته جوړکــــــــــړی خپل دلبرده
نه پوهېږم چي به ووزم که به غرق شم په کبـود[46]
وجودي وحدت[47] مــــــــقام پـــرمنصوراغی
څني ورک فــــــرق دواجدهـــــــم دموجود
خــــــوا ربنده ده درمانده په دوه جـــــهانه
(ملاامیر) بیان کــــــــوي خدای یې مقصود

***

ددلبریاري کـــــــــړه تېنګه تـــــــــرپولاد
ځان یې یارکــــــــــړه په زاري و پــــــه فریاد
ترکـــــــــوه خپله رضادیارلـــــــــــــه پاره
پــــــــــه یوه نظربــــــــــه تاکاندي اوتــــاد[48]
ودلــــــــــبرته دي معلوم ظاهــــــــرباطن ده
کـــــه تاریک وي کــــــه صفاوي کـــه کســـاد[49]
هــــــــــــــرسړی چي دپاکانومجلس غواړي
ځان دي پاک کـــــــړي له هـــــرخبثه له فساد
هـــــــــره درخته چي شیرینه وي په باغ کښي
پرمالک یې قــــــــــدرډېروي تـــــــرشمشاد
که څـــــــوک وکاندي نــــــظروحقیقت ته
بي له خدایه نـــــــــورمقصودهـــــــمه برباد
غیروباســــــــــه له میانه پـــــــــــرلارسم څه

[46] دانیم بیتی دغزلي تربحرڅلورڅپې زیات دئ.
کبودته یې په اصل کي کښلي دي: دریای کبود
[47] اصل : دوحدت وجودي.
[48] اوتاد دخدای ددوستانو یوه ډله ده اودنړی په څلوروګوټوکي تصرف لري.
[49] کساد: هغه څه چي ناروا وي ، یارواج ونه لري یایې خریدارنه وي (غیاث)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وصال بـــــه يې معمورشي پـــه خپل مراد
ددنیا پـــــه جاه دي هیڅوک غلـــط نه شي
ګاهي ســـپوروي پــــــرسمندګاهي افتاد
هـــــغه تخت چي په هــــوادسلیمان تــئ[50]
خوآخــــــرزيرزمين شـــــــو بې بنیاد
ابراهیم بن ادهـــــــــم چي خدای بادشاه کړ
بیايې ترکه کـــــــړه دنیا پـــه دين شوښاد
هـــــرمومن دئ مبتلا پـــــه دوه مقصوده
يــــوناقص ده بل کامل که لــــــري ياد
داناقــــــص مي دئ دنیا ، کامـل ایمان دئ
تـــــه کامله تینګوه ناقــص نامــــراد[51]
کامــــــلان چي جستجوی دآخـــرت کړي
نیک عـــمل يې دئ تــــوښه دلاري زاد
اول ځـــــــان ته نصیحت کـــړه بیاوبل ته
(ملاامیرمحمـــده) ژاړه پـــــه فــــــرياد[52]

***

کلــــــمه مي ده ويلي مـــــاپـــــرتامحمد
چي لــه رويه دي پیدا شــــــوه دادنیامحمد
(وه) راغــــــــلي ډېردينونه تــــرتاوړاندي
ستاددين محکمي تېره تـــــرهـــــرچامحمد
نه زمين ونه اســــــــمان نه عـــرش وکرسي
امکان نه لــــــــري چي بربه شي ترتامحمد
خدای درکــــــړې بلندي پــــــه دواړوکونو

---

[50] تئ = تلئ
[51] نامرادته په اصل کي لیکلي دي: بی فایده
[52] اصل: ملاامیرمحمده ژاړه په زاري وپه فریاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



له اوله يې پيدا كـــــړه لـــويي ستامحمد
تــــــــــه سبب يې دهـــــــــمه مسبباتو
رب سبب كړې دهــــــــــمه واړو سوامحمد
ستاګــــــــــــــربوان به تېنګوم پاكه حبيبه
ستاګربوان مي شــــــــريعت مصطفامحمد
دوحدت په زمـــــــــانه كي تـــــوره شپه وه
تاريكه شوله زايله چي دي نوركړه تجلا محمـــد[53]
چي پيدا كړ پاک سبحان نـــــــورد حبيب خپل
دمعشوق يې انعام دركـــــړئ ياك مولا محمد
ته دغيبو خــــــزانه وې پــــــــه وحدت كښې
له وحـــــــدته رابيرون شـــوې پردنيامحمد
مــــــابنده لـــــــــره لازم چي تل شاكــريم
چي مشغول يـــــــــم په ثناوصفت ستامحمد
اميدوار د شـــــــــــفاعت دپاک رســـــول يم
كه شفيع شو[54](۲)مابه خلاص كړې له ګناه محمد
پـــــــــــه رحمت ســــــره بللى پاک الله دئ
رب بادشاه كــــــړئ دجــملهووانبيامحمد
يــــــــولک خيرويشت زره دي لښكــرومقرر
ته دټولو هــــــــــم سرداروې هــم بادشاه محمد
ستاپه دين سرې[55] منســوخـــــه كل اديان كړه
ستارب مرحــوم كــــــــــړی په رشتيامحمد
ډک روی دزمين ولــــــــــه غـــفلته يا سروره
ستاددين روښنايي شــــــوه ترعرش بالامحمد

---

53 دانيم بيتى دغزل ترنوروبيتوڅلورڅپې زيات دئ.
54 اصل: كه دی شفيع شو ....
55 سرې = سره يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



عـــــــارفان چي رسېده که ولاهـــــــوت ته
دغـــه فیض وبرکت هـــــــمه دئ ستامحمد
له عــــــدمه چي وجـــــــوددهستۍ راغی
ستاله هسته راپیدا شـــــوه کل اشیاء محمد
ســــــرچشمه یې دجـــــمله وومخلوقاتو
ته آبخـــــــوریې داعـــــلی وداد نامحمد
عـــــالمان دي وارثان دین پــــــه روښانه
تـــــرقیامته ستاددین دي خیرخواه محمد
کافران مي تورزاغـــــــان مخوني[56] تـــورو
نه ښایېږي چي بـــــه ګډ شي په باغ ستامحمد
ربه روی دپاک نبي زه خـــــوارعـــاصي یم
عفوه غـــــوارم معتکف ستاددرګاه محمد
خدای لوی کړی په لویي ترهــــــرمخلوق یې
هــــم ترعرش هم ترکرسي هــم ترسمامحمد
زه فقیرخــــــواریم دوعاګـــوی دمسلمینو
هـــم دواړوعلماوفقراهـــم اولیامحمـــد[57]
په توحید کښي مي صادق کـــړي ستاپه مینه
(ملاامیرمحمد )[58] دي غـــلام ده هم ګداامحمد
محمداســـــــم محضه زمــــــوږدنبي ده
پـــــه نګین کښي نـــــوشته دانبیامحمد
دهـــــرمومن پرزړه مرقـــــــومه کلمه ده
( ملاامیر ) غــــــریب ده ولي وارخطامحمد

❋❋❋

---

[56] مخوني = مخونه یې

[57] دانیم بیتی هم دنورونیم بیتیوپه پرتله ځلورخپې زیات دئ

[58] دلته باید (امیرمحمد ) تول دري څپې ولوستل سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تخت وبخت زمونږ دباد شاه دې برقـــــــراروي
پـــــه سراج الملت والدين ده مســـــمامحمد
ډېردي عـــــمرد امیرحبیب الله خـــــان وي
ترســـــایه لاندي يې ناست امتيان ستامحمد
ربه ابادنائب صاحب لـــــــري تـــــرډېــره[59]
اخلاص کښ ده دپيشوا هـــــم دبادشاه محمد
تل مشغول دکند هـــــــــــــاريه ابادي ده
اوس مشغول په نهرســـــــراج نهراعلى محمد
نهرسراج به خدای معمـــــورکه وخت نزدې ده
(ملاامير) فقيردوعاګـــــوى ده هرسبامحمد

***

که له ياره پـــــــــــــريارراشي دوصال کاغذ
پرچشــــــــــــمانو قبلوي دځان پايمال کاغذ
که عـــــــاشق لـــــــــره يې خط دقتل راشي
وعاشق ته معلـــــــــومېږي ډېرد خيال کاغذ
دمنصورچې عشق صادق وحـــــــال يې ګوره
پاس پـــــــرسردد ارخندان ورک وجنجال کاغذ
پايبوسي دې سخته ګـــــــــــــرانه ده صنمه
زه به نسمه[60] ومخ تـــــــــه ســـتادفـــال کاغذ
ناديده پـــــــرتامين شـــــــــــومه جانانه
راستولى دې خـــپل دوست لــــه[61] دجمال کاغذ
که مې سرومـــــــال برهـــــم شي ستاپه مينه
(ملاامير) مې نه غـــــــواړي دسرومال کاغذ

---

[59] له نائب څخه يې مراد دکندهاردهغه وخت نائب الحکومه سردار محمدعثمان خان دئ.
[60] نسمه = نيسمه
[61] له = لره

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

امتي يـــــــم دنبي خــــــيرالبشرسرور
ستادربارکښي تــــــرهـــرچاده معتبرسرور
له خپل نــــــــوره پیدا دحبیب نـــــورکړ
بیاپیدادده له نورشـــــــمس وقــــــمرسرور
ناسوت پټ ودغفلت پـــــــــه تاریکه کښي
ستاپــــــه نورسره روښان کـــوه وشجرسرور
تــــــراول اولین ده ترآخـــــرآخــــرین ده
په شفاعت سره مخصوص ده پـــه محشرسرور
ستاامت بـــــــــه منتظردشـــــــفاعت وي
دبخښنښ ناري بـــــــــه کاندي پراکبرسرور
ســـــــــتاامت به وبخښي ته به راضي شي
بیادي بخښه دنیکانو پـــــــــه قدرســـــرور
دمعصیت په رنځ رنځـــــــــوریم دواغـــوارم
د(ملاامیر) دواستاشفاعت دهــــــرضررسرور

***

ډېراغلي ستاغــــــــــمونه زمـــــــــاپرسر
زه خـــــــوشحال یم یاره مــــــــه شه مرور
پیداشـــــــوی زماصورت دغـــــــــم دپاره
قبول کــــــړی مــــــــابنده پــــرخپل بشر
په معناکښي لوی نعمت ده غمي[62] مــه کــړي
ډېرلـــــــذت لــــــري ترقندوتــــــــرشکر
دعشق اورچي پـــــــــه صورت[63] ونــه لګېږي
که تــــــــه تـــــــــه وې ته به نه شې اې غریبه

62 غمي = غم یې
63 (صورت) بایدیوه خپه ولوستل سي

(c) ketabton.com: The Digital Library



که نه ته وي نه دي زه څه برابر
په مجلس د خوبرويانو که ورګډ شوي
پاکيزه به ځني ځي لکه سپين زر
تردوه نېهره شه[64] ورتېرهلته مجلس ده[65]
ته سامع شه دشين هې[66] دزېروزور
ستامقصود به تاته تې وجيم[67] (۲)انعام کړي
دامقام دهغه ده چي قبول کړي د(ده)در
دتوحيد ترسوزن ووزه که يکتايي
که دوتايي ځان يکتای کړه يک بشر
خدايه (ملاامير)عامل دخپل بيان کړي
چي تېرېږي ترتوحيد سم برابر

***

جفادي اورلګوي صنمه ليري کړه نار
ودي سوم سرترپايه خودبه کومه ګفتار
شيرين ګفتاردجانانکه شنيده کړم ياره
ترسرومال يم ورتېرکه کېښنوست زماپرکنار
سيمين بدن ددلبرمثل بي[68] نه وي هيڅوک
پټنې په اورتل سوځي اوس پرماخوارراغی وار
ستادبهاربلبلان شيرين زبان دي ګويان
ليري دي ګرزي زاغانوګل تي[69] نه وينم لار
رنځوريم زمامقصوددهته يي هميش موجوده

---

64 په اصل کې ورته ليکلي دي: ازشهردنياوآخرت ګذرکن.
65 په اصل کې ورته کښلي دي: مرادمجلس مشاهده ميباشد
66 په اصل کې ورته کښلي دي: سامع قرآن شاهاشوبمع عمل صدق
67 په اصل کې ورته ليکلي دي: تاج
68 بي = به يي
69 تي = ته يي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواله تاغـــــوا ړمه پردردي پروت یم بیمار
غمازه مه کـــــړه هی هی نه پېژني خپل پردی
زه دي دښمن ګـــــړندی مخ له درځم په تلوار
ستا د هجران تلخکي پـــــرمالازم شبخیزي
برمن مکن ستمی عــــاشقان هست ناقرار
ستا د وصال په هوا ســـــرګردان یم تر آسیا
من چه کـــــنم صنما پروت یم داورپرانګار
ربه په روی د حبیب ماکـــــړې غالب پر رقیب
تویی ګل من عندلیب نیست مـــرابی توبکار
چند ســـــوزم درآتش ترا باشد این روش
من غـــــلام خدمتش مـــــران مارا زدیار
ملا امیر هست فـــقیر مـــــرید شیخ کبیر
مـــــراتوبه برتقصیر عفو خـــــواهم زغفار

***

خـــــم زلف تو پیچ وتاب لکه مـــــار
عـــــاشـــقان هست تشنه لبه د دیدار
مجروح شد دل مـــــن زدست جان ای صنم
که دیدار راکـــــړې یاره زما دوا د پرهار
موســـــم ګل ګل ، ګل میشود شکـوفه
غفلت مکـــــن ای بلبل آمد بتونـــــوبهار
چه ګناه کـــــرده عاشق دل وجان برده معشوق
امانت کی میدهی ، دلبره وکـــــړه تلوار
هست خندان دلـــــبرم نـــــظر بمن فګند
شب وروزم انتـــــظار که رابنکاره شي نګار
سرګردان شـــــوم دلبرا ستا د دیدن په هوا
دیدار بمن کن عـــــطائ ای د کــفار وده نار

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ملاامیر)غــــلام ددلبرستاددرگاه خاکستر
ربه زاري کــــــومه مران زکـــــوچۀ دار

***

ستاپه عشق کښېي قبلــــــــوم دځان پېغور
هیڅ باک نشته که برمنډ یــــم که ســرتور
نام وننگ راخخه ورک شـــــوستاپه مینه
اوس دعشق پـــرآس همېش یم زرین سپور
ددنیاکــــورکه خــراب شي نقصان نه ده
خدای دي نه کاندي خــــــراب دعقباکور
دنیکی پـــه زراعت که ځان کـــړې ستړی
پاک الله به شي خوشــــحاله هم غمــخور[70]
خــــوی دترکودئ چپاودعـــاشقانو
عاشقان واړه مـــغموم په غــــم نسکور
رقیبا ن راتـــــه ولاړتــــوره په لاس دي
نه بېرېږم خدای راکــــــړی دعشق اور
که یوزخم دخـــــطارابادي جــــوړشي
په یوه گذارهـــــــــزارکـــړم شل او کور
که محــــــرم زه ددرباردخپل اشنای شوم
په کارنه لــــــــرم جنت حـــورغلمان نور
هغه څـــوک چي مستغرق فی الفیوضات شي
ځــان کـــــړي پټ دزماني دشـــروشور
یوگـــوره، یوبوله، یووینه ، یوغــــــواړه
(ملاامیره) یک بین شــــــه نه یي شب کور

***

ستادعشق په شراب گــــــرزم مست خمار

[70] غمخورته یي په اصل کي کښلي دي: نبی علیه السلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ماورک ځـــــان وجـــــــــهان شوهم قرار
راشـــــــه ونیسه خبردعــــــــــاشقانو
چي حیات دي که مـــــــــمات دي که بیــمار
ستادعشق په رنګ مي ســـور درون بیرون ده
نه پـــــــــوهېږم چي لاله شـــــــوم که انار
ستاددرخـــــــــاوري به کړم په سترګو پوري
خپل چشـــــــــــمان روښانوم له ګردغبار
بي تکلیفه مي ناري دي پــــــه هـــــرګ کښي
دهــــــــوهــــــــوا وازنغمه کــړي وارپه وار
دتـــــــــوبي ونه که هــــــــرخــومیوه داره
زمـــــــــاديارپه رنګ بــــه نه وي میوه دار
که وفاکړي که جفاکړي مـــــــراد(دي) خپل ده
ستاجفاده سخته ګـــــــرانه دوفایم طمعدار
عـــــــــاشقانوځـــــــان سپارلی پرخپل یارده
(ملاامیره) ځـــــــــان سپاره پـــــرحق ستار

***

ځان ببغم کـــــــــــړه له دنیاخخه لکه مـــــــړ
ستادروح شــــــــــــهبازګذرکه ترعـرش لوړ
داخلاص پـــــــــــرمیدان باندي شـــه محکمه
بي اخــــلاصه وشیطان ســــــــــریږي شوځوړ
ربه راکاندي تـــــــــوفیق پرطـــــاعت باندي
دحساب په روځ مامه کــــــــــــړي په خط پړ
غریبي ددنیابنــــــــــــه ده تېربده کــــــــــړي
دمحشرپه روځ مامه کـــــــــــــړي غریب اړ
ستادربارد عـــــــــــاموخاصو ، منعه نشته
زه درتلــــــــمه رقیب کـــــــــــړم په بدککړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تشنه لب یـــــم دوصال جامـــــونه راکړه
ماسیراب کــړه تردښمن مي کــــــړه ته لوړ
چي هــــــجران دي دوصال له مــخه راغی
بې زحــــــمته هنجه وړای نه شي کاکـــړ
هــــــرسړی چي کسب وکاندي هـلاک شي
په دهـان کښې يې هـــــــرشی وي لکه ګوړ
ســــــتادرباره دپاکانـــــودنیکانو
(ملاامير) ده ګناهـــــــکارپــــــه ګناه خړ

***

راشـــــــه زمادزړه همدمه وکــــــړه ناز
لــــــه رقيبه مي زړه تلــــــخ ده لکه پیاز
ستامحبت مي پټ پــــــه زړه کښې وساتلی
په آخــــــــرراڅخه فاش شـــــودزړه راز
ګــــــوياني له خپله ســــــوزه دهرچاده
څه به وايم زمـــــــاهمت شــــولکه باز
چي درون دچـــــاپخته دعشق پــه اورشي
عاقبت تـــــردهــــــــان وزي دريه ناز
څه بنده څــــــه يې همت څــه يې طاقت ده
چي ستادرله بــــه درشي عــــــاشق پايواز
داميد په درياب غــــــــرق لکه غـواص يم
دربه کله پـــه لاس راکــــــــړي زمادمساز
جاهـــــــلان مي له طاعته غـــافلان دي
غفلت وړي ګــــــــويامړه دي پـــــــه مجاز
(ملااميره) ګـــــــــنامي وخاکساري کـړه
خپل ځــــــان بوله کم تـــــرملخ هم ترتــاز[71]

---

[71] تاز: يورازحشره ده. چورچورکه(پښتوپښتوتشريحي قاموس)

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

ستاودیدته زمـــاډېرکېږي هـــــوس
محروم مه کـــــړه ماغـــــریب لکه مګس
دوصال دباغ دي سخته ګـــــــــرانه لارده
ګرانه نه ده چي فـــــریادکـــــړم دجرس
ستاددیدخیال به ونه وزي زمـــــــــاله سره
که رقیب راته غـــــونډۍ کـــړي خاروخس
سمندرنګه ســـــــــــاکن دعشق په اوریم
نه په مرم نه دوتـــــولـــــــــــرمه وس
دیوسف په شـــــــان بندي دغم په څاه شوم
دوصــــــــــال کاروان مي شه ډېر و ډېرپس
هرمـــــــرغه چي وي ایله په هـــــواګرزي
چي بندي شي ګالـــــــوي بـــــند دقفس
که وصال غـــــــواړي خدمت په اخلاص وکړه
په هــــــردم درته حاضرفــــــــــریادرس
ستاد سترګــــــــوکتوو ایستم له حـــــاله
پردغـــــــــه حال پېژنــــــم کس وناکس
دایقین ده چي دمـــــــــــرګ سپاره به راشي
(مـــــلاامیره) تاله خـــــــه خنداهـــوس

***

ســـــــــتاپه فضل بـــه خلاصېږم له خناس
تل جهادورسره کـــــــړم یــــــــم په هراس
زمـــــــــاپه زړه کښي اچـــول دخطروکاندي
غواړي ماکـــــړي مســـــوس[72] په ډېروسواس

---

[72] مسوس: هغه څوک چي وسوسه ورلوېدلي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که توفیق مي خــــــــدای رفیق کړپرده باندي
پرې بې نه ږدم بې مـــــــــــرګیه په خپل لاس
چي دښمن دچاپه کــــورشي حال بــې[73] څه وي
زماپرکــــــــــورهمېش ولاړددښــــــمن آس
راداخل زماپه خـــــــــونه نفس شیطان شوه
بندګي مي پـــــــه عـــــــذاب شوه وکړه قیاس
په تصدیق وپه اخــــــــلاص عبادت وکـــړه
ځان ساته قـــــــوي دښمن لـــــــري خناس
ښه صفاکــــــــــړه روح و زړه په ذکـــروفکر
خپل دلبرلـــــــــــره ورځه صاف تــــــرا الماس
هـــــــــــرعامل به جزامـــــــومي دعمل خپل
(ملاامیره ) نیک پـــــــربدوکـــــړه تل پاس

***

خدای درکــــــــــــړی ډېردولت سنګ پاروس
ســـــــــــتاپـــــه زړه کښي مکان لکه پانوس
ددولت دي هـــــــــــوادارډېردښـــــــمنان دي
پسي ګرزي کیقباد هـــــــــــــــم دقیانـــوس[74]
ښه دولت لـــــــــــره زنانــــــــــوته نګاه کــړه
پـــــــــرپیره شـــــه که سردي وي که تمـــوس[75]
ترســـــــــــهاره بیداري کـــــــــړه غفلت مه کړه
که غـــــــــــافل شوې پرتاړغ کـــــــوي خروس
که دي دادولت نـــــــګاه کــــــــــړته بادشاه یې

---

[73] بې = به یې
[74] کیقباد : دایران افسانوي پاچا چي وایي سل کاله یې په خورا عیاشۍ کي پاچهي کړې وه (غیاث)
دقیانوس :یوظالم پاچا و چي وایي اصحاب کهف دده له ېېري له ښاره وتلي و اوپه غارکي پټ سوي وو (غیاث)
[75] تموس :دګرمۍ موسم. دکندهارپښتانه تموښ ورته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـــــــقابل دي نه وينـــــــمه چين و روس
سنګ پاروس که داخل په لـــــوی بازار کړي
خدای به درکړي خوشحالي تـــــــرنو عروس
تکليفات د شـــــــــرعي پنډ پرخپل سر کړه
(ملاميره) بې تکليفه لـــرګی نه کېږي ابنوس

***

په صيقل ســـــــره ګناه کـــــــړه دزړه تراش
د توحيد پــــــه نورغايب کـــــــړه بد خفاش
که صادق يې امـــــــرونهي کــــــړه محکمه
په قـــــــــرآن کي نقش کـــــــړی دئ نقاش
خــــــوباطله مـــــدعاد دښمن نه کـــړي
مــــــــدعاد دښمن دئ پــــــه شرعه پاش
ته آئينه د شــــــــــرع نسه[76] وخپــل مـــــخ ته
ســــــتاعيبونه به ښـــــــکاره شي بې تلاش
هــــــربنده چي پــــــه اخلاص بندګي نه که
په قيامت بــــــــه شرمنده وي مــخ يې خراش
هــــــرباد شاه چي پرسپاه دولت بسيار کــړي
هـــــــرسپاهي وي تېرترسرهــــــــم ترمعاش
(ملاميره) دون هــمته تــــــرهـــــــــرچايې
هسي کـــــم يې ددنيا تـــــــــرادنی مـــاش

***

په حصول د مقصود تل ګــــــــــرزي درويش
پري بـــــــه نه زدي خپل مقصود په زړه دلرېش
ترک وهـــــــــلي ده دنياد خـــــدای دوستانو
تر دنيا تېرشـــــــــــومحبت د خدای وريېش

[76] نسه = نيسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې له جـــذبه دوه جـــهان کله هېرېږي
که مـــجذوب شـــوي له تا پاته ګاوومېش
طـــریقه وعشق ته جـــذب الـــهي ده
ته عـــاشق يې که رب جذب کئ[77] درپېـــش
که عاشق شـــــوي دغه لوی فضل درب ده
د اســـــم ذات په تېغ زخمي زړه همېش
دخدای اســـم ده ساکرتابـــه مسکورکړي
یک بیني ویک خـــواني به کړي ستاکېش
متنفربه له مخلـــــوق ظاهـــرباطن شي
کع دي یاروي که اشـــــناوي که دي خوېش
نبه بیان دجـــذب عشق ده مـــــومنانو
(مـــلاامیر) يې بیان وکـئ[78] خیرانـــد ېش

***

په خپل ژوند چي خپل یارنه کړې فـــراموش
خپل یاربـــــــوله تا به کاندي زرین پوش
وعـــــاشق ته دمعشوق صفت شکـــروي
په ظاهـــــــره وي آرام باطن پــــه جوش
په خپل عشق دطاعت بارپـرمعشوق سپک شي
پـــــروانه که ددنیا پــــه خرید فـــروش
عشق هـــــــغه دئ چي پرشرع مـــوافق وي
مخاف له شـــــریعته شیطاني حق فراموش
نه ده چـــامیندلی عشق پـــــه کسب جانه
دالباس دهغه چاده چي يې رب کاندي وروپوش
ددیداردي طلبګارعـــاشـــــقان واړه

77 کئ = کړئ
78 وکئ = وکړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



همېشه وي سرګــــــــردان ګـــرزي مدهوش
(ملاامیره ) که صادق یې پـــــــه طلب کښې
شب وروز دجفاز هـــــــــرکړه ته نـــــــوش
همېشه بیان دعشق کــــــــړه (ملاامیـــره )[79]
په بیان کښې دي ثــــــواب ده نه شي خموش

***

زمــــــــــادزړه خیال تېرېده کاندي ترعرش
ارام نـــــه که ددنیا پــــــــرفـــــــاني فرش
ستادعـــــــــشق له برکته مستغني شــــــوم
دوه جـــــــهانه راته هیڅ شــــوه لکه قـــرش[80]
راځخه هېردهـــــرشي خوندشي په دهان کښې
نه پـــــــوهېږم چي داتلـــخ ده اوکه تـــرش[81]
چي دعشق په اورمي ســـــــــوی دل وجان ده
جنګ آســـــان شــو د اورس[82] هـــــم دحبش
ســـــــتادعشق په جامــوهسي مست خماریم
دناکــــــس اوس منت باریـــــــم هم بارکش
رقیبان راتـــــــه ولاړستاپه کـــوڅه کښې
پرورخم مانــــــوش کـــــړی دی ستابرش
دوي چشماني مي څلورشــــــوي ستاپه لوري
منتظردرتـــــــه ولاړیــــــــم پــه جنبش
توکل پرخپل خــــــــالق کـــړه (ملاامیره )
خپل خـــــــالق بیاله تاکاندي سوال پرسش

***

[79] اصل: ... ملاامیره فقیره
[80] قرش: دیوې سکې نوم دئ.
[81] اصل: .... داتلخ ده که شیرین ده که ترش
[82] شاعردلته (اورس = روس ) له عامه محاوري سره سم راوړی دئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپل یارطلب کـــــوه تل پـــــه اخلاص
ځان غوټه کـــــړه په دریاب لکه غـــواص
عاقبت بـــــه درپیدا کـــــړي ترسرتېره
ته بـــــه شې په دغـــــه درکلان خواص
که دي ســـــرله تنه ببل په غــواصۍ شي
په عقبا بـــــه پیدا کـــــړي دسرقصاص
په طلب کښې دوصال که ځــــــوک فناشي
رب به ورکـــــړي درجـــه دخاص الخاص
په تـــــقوا و په اذکار زړه نـــــرم کېږي
پـــــه مثال لکه چې نـــــرم ده رصـــاص[83]
راشـــــه پرېږده دادنیاطلب دیارکـــــړه
ته مسلـــــــم یې نــــه ولیدبن عاص
ددنیامـــــحبت حـــــجاب ده (ملاامیره)
راشه ترکه دادنیاکـــــــــړه په اخلاص

***

دمعشوق دربارله ځـــــم لـــــرمه عرض
که نـــــقاب له مخه واخـــلي سرعوض
زه عـــــاشق یم منتظرســـــتاودیدن ته
ستاپه دیدستاپـــــه رضالـــــرم غرض
که عـــطاراته دیدن کـــــړي زماصنمه
زه خــــوشحال یـــم که وړیاوي که په قرض
بې له تامي هیڅ مـــــقصودپه زړه کښې نشته
پرعـــــاشق باندي طلب دمعشـــوق فرض
عـــــاشقان پـــــه هجران سوي دي دلبره
ارام نه کــــــړي یو ســـاعت پرزمین ارض

---

[83] رصاص: قلعی (یورازفلز).

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ځـــــــــوک چي توانګرپه قناعت شي
زړه يې خـــــــلاص شي ددنياله سخت مرض
دانايانولـــــــره لـــــــړاشــــاره بـــس ده[84]
(ملاامیره ) جـــــاهـــلان دي په زړه قبض

***

وخـپل ياروتــــــــه ژړاده زمـــــــافقط
تــــــوکل پـــــرتا ، نه پربل چاده زمافقط
ښـــــــه مي يارښــــه يې ديدارده بې مثاله
ستاديدارتــــــــه ډېره تمـــــناده زمافقط
محــــروم ستاله ديداره هـــــــغه ځوک دي
چي کافـــــــروي دی دښـــمن ستاده زمافقط
تل دزړه دېګ پـــــه جـــــوش دعشق په اور
ترچشمانو مي خـــوناب ګاه وبيګاه ده زمافقط
پخته کارعــــــــاشقان موج لکه درياب کړي
ځني ورک ځان جــــهان محبت پرتاده زمافقط
منصفان که انصاف وکــــړي په خپل ځان کښې
هيڅ منت بـــــــه نه پرتاونه پرمــــاده زمافقط
په عالـــــــم کښي منت بارشوې (ملاامیره )
دتهمت په پېتي ماته شــــــوې ملاده زمافقط

***

ځــــــــوبه ګــــــرزمه ژوندی پردابساط
طمع نه کــــــــړم چي پيدابه کـــــړم نشاط
شيرين عـــــــــمرپه غفلت رابانـــــدي تېرشو
نه مي وکــــــــړه ښه تــــــــقوا واحتيــــاط[85]

[84] اصل : ... لړاشاره بس وکافي ده
[85] اصل : ... ښه تقوا وعبادت احتياط

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیا ځـــــای د کـــــوچ وبار هیخ باور نشته
ود اناتــــــــه ده ځـــــرګند لکه رباط
زندګي کــــــړه واړه صرف په عبادت کښې
تېربــــــه شې دباد په شــــــان پرپل صراط
هیڅ عـــــــــاشق به له رقیبه وېره نه کړای
که له یار ســــــــره يې نــــــه وای اختـــلاط[86]
د اسم ذات په تېره تېغ کـــــــــړه زړه دونیمه
(ملا امیره) ډېربـــــه ځـــوکـــړې انبساط

***

دعشق بار زمـــــــا په شــــاده سخت غلیظ
راته جـــــوړه تـــــــماشاده بخت غلیظ
عـــــاشقانو ته يې دام دزلـــــــفو ایښی
عاشق بند شــــــــوترد ابند نشست غلیظ
بد عـــــــمل راته رقیب شوزمـــــا وځان ته
نیک عمل ده زمـــــــاوځــان ته تخت غلیظ
دغه تخت مي دباد شـــــــاه پـــــرتخت بالا ده
وربې نه کـــــــړم زمــــــا تخت ته بخت غلیظ
راخخه هېر دیار محبت کـــــــړه دوه جـــهانه
همېش سپور دعشق پــــــرآس یم سخت غلیظ
نن تناب دوصـــــــــال ټینګ نسه محکـــمه
داتناب ده ډېـــــــــر دیــــــــار مخت غلیظ
عروه الــــــــــوثقی رب بللی خپل قـــــرآن ده
ته عامل شه(ملا امیره ) دقـرآن نوشت غلیـــظ[87]

***

[86] اصل : ... که له یارسره يې نه وای سروکاروا ختلاط
[87] په اصل کې ورته کښلي دي: هرچه درقرآن نوشته شده است ، همه احکام محکم است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه طامـــــع یـــــم ددیدارلـــــــرمه طمع
زه بلبل یــــــــم دګلـــــــــزارلرمه طمع
سیاحـــــــان چي سیاحت پــرزمین کاندي
زه سیاح یــــــــم دبـــــهارلـــــرمه طمع
جوش خروش دعـــــاشــقانوپه سینه کښي
زه عـــــاشق دفیض انـــــــوارلرمه طمع
چي تشهیرااختیاروي هـــــغه خامــــان دي
زه پخته دګــــــمنامیه، دقـــــرارلرمه طمع
نابالــــــغ فــــقیران ډېردي ، پیري کاندي
زه بالـــــــغ دښــــــه رفـــــتارلرمه طمع
په طریقت کښي نابالــــــــــغه ډېرکسان دي
زه بالغ دطریقت یـــــــــــم ددستارلرمه طمع
کمینه بـــنده دخــــــــدای( ملاامیره )فقیره
دتاخــــــون په وینو ســورلکه انارلرمه طمع

***

دلاله په شــــــــــان زمــــــــاده دزړه داغ
ســـــــــتادعشق له غـــــمو ،نه لرم فراغ
دبلبل په شـــــــان طلب کـــــــوم دګلــــو
که مي ولـــــــــیدای دیــــــــاردحسن باغ
که صدف رنګه سینه شـــــــوه دچــــاصافه
په صدف کښي دررونبـــــــان وي لکه چراغ
دحقیقت پـــــــــــرګلستان بلبلان ګـــــرزي
کله ښـــــــــايي چي ورګډ بـــــه شي تورزاغ
(ملاامیر)غریب دردمنده ســتاپه عشق کښي
په وصال سرېږ[88] معطـــرکـــــــــــــړه جان دماغ

---

[88] سرېږ = سره يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

خدای دي نه کاهیخ مسلـــــم له عشقه صاف
چي له عشقه وي خـــــالي ، ده بي انصاف
هرمومن ایـــــمان راوړی په خپل عشق ده
دکافـروچي عشق نه وحساب نه شوه له اشراف
دجاهــــــلو رجـــوع کله شي وعشق ته
عــــاشقان دخپل زړګي کانـــدي طواف
له ازله قاســـم کــــړی بنــــه قسمت ده
کافـــــران به په عــــــذاب مـومن معاف
پرزاهـــــدوباندي سپک بارد طـــــاعت ده
سبب داده پـــــرمحــفوظ يې ده عشق چـاف[89]
هـــــغه چاته چي طاعت مرغوب محبوب شي
داهـــــــمه ده واړه عشق ، وکـــــړه انصاف
دزاهـــــدوکفاف قـــــــوت ولایموت دي
پــــــه زیادت يې حکــــــم کبړي داسراف
سرګـــــــردان اهـــــل دنیادي په طلب کښي
مـــــوړبه نه شي مګرخـــــاک شوشکم ناف
خـــــــدای دي صبرقناعت زمــــاروزي کړي
(مـــــــلاامیره) لـــــه خپل نفسه کـړه خلاف

***

که صـــــــادق يې له ګناه کـــــــړه ځان حنیف
په تــــقواوعبادت کـــــــــړه نفس ضعیف
دنیکانــــــومحبت دځـــــــان عادت کړه
خـــــــدای دي نه کاندي ګــــمراه دچاحریف
دجاهـــــــلوله صحبته بـــــعید ګـــــرزه
په صحبت بــــــه دنیکانــــــــوشي لطیف

[89] ښايي چاپ وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



عشق بازي له ميانه واخله كه دانايي
په خپل ځان كړه جامه د عشق لفيف
په ويل د محققانو فهم وكړه
هر ګفتن يې ترمرجان و در ظريف
هر كامل له خپله سوزه تصنيف كړي
ناقابل ده (ملاامير) كوي تصنيف

***

ماچي وخوړل ديار د لاس ترياق
راڅخه ورک شو وخت د صبح و د اشراق
ستا له حبه ماسيوا شوه فراموشه
بيا په ياد د يار شيرين دهان بزاق[90]
سرګردان و پای دوان شوم په عالم كښي
د عشق آس مي ځابک وليد تربراق
چي وصال مي د دلبر په كوخه وشو
داخلاص پر ميدان پاته شومه طاق
له هغه پس خوشحالي شوله راپېښه
بيا مي وليد ځان جهان شومه آفاق[91]
په ظاهر صورت مشغول يم له عالمه
ذميمه شوله بدل په نېک اخلاق
(ملاامير) ده مدرس د عشق په علم
د هر بيت ثواب دي[92] ډېرشي ترعتاق[93]

***

ستا د وصل د ګلشن زما اشتياق

[90] بزاق: د خولې ناړو ته وايي. كله كله د خولې په معنا هم كارېږي.
[91] په اصل كي ورته كښلي دي: برهوش آمدم
[92] دي = دي يې
[93] عتاق: د مينځو او مريانو آزادول

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه به وايـــــم دهجران دلـــــوی فـــراق
زه تــــرسروتــــرمـــــال وخپل جـانان ته
خدای دي نه کاندي زمــــا قـــــول په نفاق
په ژړا ســـــــره زمــــــا بــوتي کاني ژاړي
خـــــلاف نه ده دمعشوق عـــــاشق مشتاق
بدعمل زمــــــا حجاب دیارله مـــــــخ شو
ورکــــــېده دي دحـــــجاب پـه نیک اوراق
دتــــــوحید پـه دریاب غرق شه حجاب نشته
نبـــــــه وصال بـــــه دي روزي کاندي رزاق
دقسمت بــــــرخي وهـــــرچاتـــــه رسېږي
منتظرورتـــــــــه ولاړدي تـــــــول عشـــاق
دوه جـــــــهان چي له تاهېرشــوه (ملاامیره)
څه په کاردئ خــــــراسان ملک دعــــــــراق

***

بې جذب الهي به څوک پیدا کـــــړي دزړه چاک
هـغه به مجذوب کېږي چي يې رب که سينه پاک
عـــــــامل دشریعت شه ته خضوع وانقیاد کړه
تمثیل دامـــــــرکاندئ زیاتي نه لرئ هیڅ واک
که فـــــضل درب وشي تابه کـــي[94] شاه شاهان
رتبه دعشق به درشي تابه کي[95] خس وخــاشاک
هغه (مي)بختورده چي دی تېرترنام وننګ شي
مـحکمه شریعت وي پخپل دین کښي وي چالاک
دعشق مثال غـــــمی ده دوه جهانه قیمت نه دئ
فـــــرض (يې) پتېده دي چي له تانه شي بېباک

[94] کي = کړي
[95] کي = کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګـــــوره هـــرزارع چي تخم خړنه که په مځکه
حـــــرام باندي خرمن دئ هم ثمرو هم خوراک
حـــــال دالیاووګذشته ووپـــــــــه داشان و
په درون کښي جوش خـروش ودهیچانه وادراک
خامان هغه کسان دي چي ظاهرجوش وخروش وي
نه وي دی تېرشـــــــوی تـــــرنهه سره افلاک
روح دده محبوس وي په ناسوت په ملکوت کښي
ذیقه یې سینه وي غـــــریب ګرزي ګریوان چاک
خپل نفس ورتـــه وايي ترتانشته(هیڅ) ذاکربل
که دی په داغلــط شوتلخ یې کړ شیرین باغ ناک
بسکه (ملاامیره )خــــه ویل دي ترخوله خبژي
فقیران دزمــــــاني دي مبتلا خه ورته شاک

***

مــــــن وعـــــــن د کتاب ورک دهـــغه چاشي
چي دعشق دودوني[96] بـــرشي تـــرداووه سماک
دري ذکره په حدیث کښي بیان شوي که خبریې
یومي لساني دویـــــم قلبي دریم روحي ثناک
لســـــــاني مي لقلقه ده قلبي ذکروسوسه ده
روحي مشاهـــــــــده ده درسول په قول پاک
فرحت دروحي ډېردئ که پـــــــورغی سالک
پـــــر(ملاامیر ) چي راغی همېشه ده فرحناک

***

هـــــرمرید دي خپل شیخ بـــــولي پیرکامل
تابـــــه کاندي ومقصود تــــــــه پیرواصل
سست یقین که مــــــــریدي دواصــــل وکه

[96] دودوني = دودونه ئي(لوګي ئي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی بـــــه پاتـــــــه معرا[97] شـــي بې حــاصل
اول شــــــــرط د مـــريدی مې خپل يقين ده
که شرط ترک شي مشـــــــروط پاته شي عاطل
پـــــرناقص که کامل يقين خـــــــوک وکه
ســـــــتادپاره بـــــه ناقص پيرشي کامل
هــــــرمـــريددي وخپل شيخ ته تسليم کاندي
پــــــه دغـــــه تسليم بــه شي بالغ عاقل
جــــــماعت وردوظيفه پــــــرځان لازم کــړه
تقواخــــــوی کـــــــړه دګناه نه شي عــامل
د سلــــوک بيان مي کــــړی پـــه پښتودئ
(ملاامیره) فـــــرق کـــــوه دحــق باطل

***

راښکاره شـــــــوداشـــــــنای حسن جميل
محسنات ددنياشـــــوه خـــــــواروذليل
ښايستې ددواړوکــــونــــوسرکوزي که
چي يې ولـــــيدزمــــــــاديارحسن اصيل
پـــــه کامــــــل صفت موصوف زمــــادلبرده
خـــــــوک به نه وکي[98] سيـــالي کثيرقليل
ترچشـــــــمانومي خـــــوناب ستاله فراقه
نه پــــــوهېږم چي قصيرشي که طـــويل
پــــــه طلب دخپل جـــانان يـــم سرګردانه
پري بې نه ږدم که غـــــرق شم پــــــه رودنيل
سرومـــــال زمـــــــافـــديه ترخپل جانان ده
(ملاامیره) صـــــادق شه مـــه کـــړه تعطيل

---

[97] معرا: لوڅ لپړ
[98] وکي = وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســـــتا ووصـــــــل ته حيران ده زمـــادل
شين تـــــوتي د ګلســـــــتان ده زمـــادل
له فلکـــــــه سنګ رېزي راباڼـــــدي اوري
سرګردانه پرزمين هـــــم پر اسمان ده زمـــادل[99]
خــــــوب خندارا څــــخه ورک ديارپه مينه
خودبه ژاړي پـــــه طلب دخپل جانان ده زمادل
پــــــرعـــــاشق دمعشوق کله دلسوزي شي
دلســـــــوزی مـــــهرباني ته نګران ده زمادل
غـــــــم دعشق را څخه هېرکـــــړه نورغمونه
ستاله غــــــــمه سرګـــردان هم نالان ده زما دل
دظاهــــــــــردښمن که زرتوري پـــه لاس وي
هيڅ باک نشته په عذاب له نفس شيطان ده زمادل
بندي کـــــــړی دي دهـــــجرپـــــه زندان يم
متنفرلـــــــــه اختلاطه دانـــــسان ده زمادل
ځـــــــان ملبوس دبي ننګيه پـــــه لباس کړه
(ملاامیره) له جــــــهان څخه ترسان ده زمادل

***

دســـــــاقي له برکته ملک ګلـــــــــزارووينم
پــــــــرګلانــــــودبلبلو چــــــونهاروينم
زه بلبل ستاد ګلشن يــــــــم بل ګلشن څه کوم
خــــــــزان نشته ستاګلشن همېش بهاروينم
هـــــــرګلشن لـــــــره خـــزان شته له فلکه
په امـــــــــان زه ســـــتاګلشن له هراضاروينم
عـــــاشـــــــقان مي بلبلان ديـــــاردباغ دي
ساکنان (مي) عـــــاشقان زاغــــان فراروينم

[99] تر دي نيم بيتي وروسته دوهم نيم بيتي څلورخپي زيات دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـــــوشته مي پــــرمحفوظ دفتردعشق ده
تسلسل دعـــــاشـــــقانوواړپه واروینم
مــــومنانومـــــومني پــــه عشق پیداکړه
پـــــه عقبايي لـــــويه ګټه ددیداروینم
له دیـــــدارخخه مــــحروم تول کافران دي
عـــــشق يې نشته دوی مـــقهوره دقهاروینم
بـــــه شیرین بیان دعـــشق ده ( ملاامیره )
راشـــه وخت کـــــوتاه دئ اوس تلواروینم

***

خــــــدای راکـــــړی پاکیزه دین دااسلام
دغــــــه رحـــــم درحمان ده لــــوی انعام
جـــــماعت مي طـــریقه دپاک رسول ده
خبردارشـــــه لـــــمونځ ونه کـــړي بې امام
تارکان دجـــــــماعت بـــــه شــرمنده وي
پـــــه عقبابـــــه مختورن وي هـــم بدنام
تل درود واســــــــتغفاروایـــــه په ژبه
شفاعت بـــــه دي روزي شي دنبي خیرالانام
تـــــوکل تـــــقواهمېش پرځان لازم کـــړه
دښمن بندکـــــــړه دخضوع پـــه محکم دام
بیامنقاددخپل پادشـــــاه شـــــه که دانایي
محکومي تـــــه همېشه کـــــــړه دحکام
(ملاامیر) غریب دوعاکـــــوی دهـــرمومن ده
خصوصاً دخپل پادشـــاه هـــــــرصبح وشام

***

دیاردیدلـــــــره ورځــــــم بې پــــروبال یم
له دیدنه یې شـــــــرمېږم بې جـــــــمال یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه غلام یم بېکاره دیار په کار کښې
کم همته بد هنره بد خصال یم
بندګي دي قبلوم پردوه چشمانو
یاره ته مي کړه قبول زه ډېر ملال یم
رقیبانو سرګردان کړم په عالم کښې
ستا دربار له درځم بند په جنجال یم
درقیب له همراهۍ مي سل توبې دي
نادیده یار مین کړی پرشین خال یم
کیمیاګر (دي) د کیمیا په طلب ګرزي
دیار وصل زما کیمیا په قیل وقال یم
عاشقان کیمیاګران طلب دیار کړي
که غافل شوم له طلبه بد فعال یم
د تغیر تبدیل لار نشته زما ویارته
په طلب یې دوصلت ودوصال یم
حیرانېږمه وځان (ته) وجهان ته
ولي ورک ځان وجهان شوبې کمال یم
زه منکر له بندګۍ د نفس شیطان یمه
(ملا امیر محمد) بنده د ذوالجلال یم

***

په ظاهر غریب ملا باطن ملنګ یم
په اسم ذات سره خوشبویه ترلونګ یم
لوی اقلیم د مومن زړه ده بې پایانه
وربي[100] نه کړم له غمازسره په جنګ یم
که لښکر د دښمن ډېر ده هیڅ باک نشته
پنځه غشي مي په لاس ناست پرپلنګ یم

[100] وربي = وربه یي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځه غشي مي پنځه فــــــــــــرض لمونځونه
که ماتېنګ کـــــــــړه زه ولاړ دیار پــرننګ یم
دیارننګ مي جـــــــــماعت دپاک رسول ده
مومنان بـــي[101] تینګـــــــــوو زه ناصح لنګ یم
پاک مسجد مي ده پالنګ مـوړباندي ناست یو
پرې بې نه ږدم که هــرڅو په صورت ثورنګ یم
که وصــــــلت له یاره غـــــواړې لاړ دغــه ده
که مي ټینګه کـــــــړه دالار باد شاه اورنګ یم
افضل کړی خدای زمـــــــوږدین ترکل ادیانو
که عامـل دشریعت شــــــوم زه خوشرنګ یم
ستاد عشق له زخــــــمه سورلکه ســورګل یم
عاشقان دي واړه ســـــره ، نه چي زه رنګ یم
دوصــــــال طلب لازم پــــرمـــــاغریب ده
دهجران په اوردي سوی خــــــــوارپتنګ یم
هـــــــمراهي دبې دینانـــــوپه کارنــه ده
بـــــهترداچي له بې دینو څخه پـــرځنګ یم
که رویت مي پــــه نصیب ستاله جــمال شي
څوړند ســــــربه همېشه لکــه متنګ[102] یــم
دسراج الملت والدین بنــــــه دبدبـــــــه ده
(ملاامیر) دده دوعــــــاګــوی نه دپرنګ یم

***

کباب کـــــــــړی دئ زمــــازړه اورد هجران
دغــــــــه اورهـــــــجران دیارغواړم تاوان
په عـــــــوض کښي وصال غـــواړمه جانانه

---

[101] بي = به یي
[102] متنګ : کمندته وایي (ظفراللغات) اوکمند دلومي په معنا دلته له بیت سره سرلګوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که وصـــــال مـــــعاوضه شي نشته زیان
معشوقه له عـــــاشقانو حجاب نـــه شي
دا ادب ده د عــــــاشق معشوق تــــــرمیان
که عاشق لـــــره ســــل روح د ځان پیدا شي
همګي به کي[103] فـــــــدیه تــــرخپل جانان
پـــــه دنیا کښي یې بل حب و مقصود نه وي
کل مقصـــــــود یې وي دلــــبر، ژاړي حیران
هغه څوک چي پـــــه نظر د معشوق نیک شي
بیا یې ســـــــپورکاندي د عشق پرآس دوان
د دنــــــیانـــام ننګ واړه ځني هېر شي
پروانه کـــــړي د دنیا په ســـــــود و زیان
کل هـــمت یې وي مصروف د یار په حب کښي
بل حب نه کـــــړي صادقان دي عـــاشقان
پـــــه بیان د عشق شیرین مي روح و جان شو
(ملا امیره) دریاشـــــه پــــرسپین میدان

***

ستا له غـــــــمه راتـــــه اوردئ کل زمین
بې مثال ده زمـــــادلبرمــــخ یې رنګین
محبت زمـــــاوســـــــیله ده ووصال ته
رقیبانــــــوراته کــــــــړی دئ کمین
بل اسباب د عــــاشق نشته بې له عـــشقه
د عشق اوربـــــه وســـــوځي رقیب لعین
بې تکلیفه هیڅ قـــــاصد مقصود نه مومي
سرګــــــردان دي قاصدان په زړه غمګین
اومي غـــوښي چي په دیګ کښي جوش ونه که

---

[103] کي = کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبې نه خــــــــوري که غني وي که مسکین
چې پخته د عشق پــــه اور کښې عاشق نه شي
حـــساب نـــــه ده پــــه رتبه د کاملین
د خامــــــانو خامکاري ســــــوزو ګدازه ده
تل بــــــه ژاړي دی بـــعید وي له تمکین
په بیان د (ملا امیر) هـــــغه پــــــوهېږي
چې ســـــالک وي پخته کار زړه یې وي سپین

***

پــــــه تناب د زلــــــفو بند یــــــم د جانان
نــــه خلاصېږم که ښند مــــه دوه جـــهان
هیڅ مې وېره لــــه رقیبه غــــــمازنه شي
پـــــرځــــــان وینمه پیره د تــــورزلفان
شش طــــــرفه فیوضات د جــــانان اوري
خـــــالي نه ده هیڅ آفـــــاق زمین اسمان
عـــاشقان همېش په غم کښې خوشحالي که
وصال غـــــواړي پروا ، نه کـــړي په هجران
که نن ګــــــوري تورو سپین دیار په خط کې
ته عامـــــل شه همېشه ګـــــــرزه ترسان
نــــه حسب نــــه به نسب د چا په کار شي
چې حـــاضرشي د محشر په لــــوی میدان
خوشـــــحالي د نیک عــــمل ده و نیکانو
بد عــــمل بــــه غمګیني شي د عصیان
که رضا د جــــانان غــــواړي رضا پرېږده
که جانان له تا رضا شو څه په کار حورو غلمــان[104]
د رضـــــادي طلبګار زه خـــــوار بنده یم

---

[104] دا نیم بیتی ترنورو څلورځپې اوږد دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ملاامیر) ده ګناهګار غواړي غفران

***

چي خالق تخليق وکئ[105] زما دژوندون
بیاعاشق يې پرځان کړم راغی بېلتون
په خپل عشق سره طالب زه دوصال شوم
شب وروزیم سرګردان په جګرخون
نه پوهېږم زما په باب قلم څه کښلي
چي یوغم وي نوشته که په زرګون
که مي ورکه خوب خنداشوه ستاله حبه
په کارنه دي ددنیاډېرنعمتون
نورغمونه راخخه هېرديارغموکړه
یارنیولی دئ له مخ سل حجابون
محرمات شبهناک شوه سل حجابه
له مذکوره تقوا کاندي صالحون
په نصیب دعاشقانو عجزونیازده
دیارحب دعاشقانو ده ژوندون
تل مشغول دیارپه وصل صادقان دي
سمندرغوندي ساکن اوریې مسکون
تمام صورت مي ستادعشق په اورکباب شو
(ملاامیره) تاله اوردعشق صابون

***

معشوقان دعاشقانو قاتلان
بي تقصیره ځني یوسي دل وجان
په عالم کښي سرګردان ګرزي ګریان وي
بیایې قوت وي دزړه وینه دخپل ځان

---

105 وکئ = وکړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځني ورک صبرو سکـــــــــون ديار پــــــه مينه
همېشه يې اوښـــــــکي ځي تــــردوه چشمان
بې غمي شي پــــــــرحـــــــــرامه په دنيا کښې
د فـــــــــراق اوښکو ترځـــــــــان وګـــــرېوان
دوه جــــــــــهانه ځني هېرشي بې دلــــــــبره
سرو مـــــــــال کــــــــړي صدقه ترخپل جانان
پـــــه کــــــــوځه ديارولاړېې نام وننګ وي
مـــــــــرتبه يې وي بلنده تــــــــــراســـمان
پـــــــه اول کښې محبت بيا ګـــــــــــمنامي ده
(ملاامیره ) ګـــــــمنام شـــــــــه که يې پوهان

***

له هـــــــــجرانه همېش ژاړم پـــــــــــه نارو
ديارديد پرمـــــــــــاشيرين ،تـــــرقند مسرو
درقيب پــــــــــه محبوسۍ بــــه هيڅ بند نه شم
زه محبوس يـــــــــــم دخپل يارپـــــــه زولنو
چي يې تـــــــوري زلفي بيا پـــرمخ خپري کړې
عـــــــــاشقان سينه ســـــــوزان په اند ښښنو
رقيبان يې راتــــــــه کښېنول پـــه خنګ کښې
اوس مي ولي پــــــــه تکـــــړو[106] پـــه سنګ رېزو
بـــــــــــدبختي درقيب داوه لـــــــــه اوله
چي يې ذات دده پيدا کـــــــــــړلـــــــــه اورو
بيا يې وکــــــــــړتکبرپـــــــــــه سجده کښې
پـــه کارنـــــــــــه شــــــــو عبادت دده پرکلو
رقيبان مي دښـــــــــمنان دپاک ايـــــمان دي
( ملاامیرمحمده ) ځــــــــغله پـــــــــه ګامو

---

[106] کټ مټ وليکل سو

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

خال دي ایښی دئ پـــــه میان کښي دابرو
نن مجنون غوندي عـــــــــذاب کړمه لیلو
ودربارتـــــه دي ملنګ پـــــردوهه ناست یم
ولاړبه نه شـــــــم مګردیدراکـــړې خیالو
منتظردي ددیـــــدن لکه بلبل یـــــــــم
څوبه ګـــــــــرزمه محرومـــــــه له کتو
یاره جـــــــوړه شکوفه پـــــه زمستان کړه
اوکه نه وي جان دمــــــــاغ مي کړه خوشبو
جـــــــدايي دیارترخـــــه وصال شیرین ده
که یـــــــــوځله وصـــــال کاندي نن پېرزو
عـــــاشقان دي شهــــــبازان دیارپه مینه
سرګــــــردان دي پرزمین پرلـــــــویو غرو
ربه روی ســـــتاددوستانــــــــــومي دروړی
عـــــاشقان کـــــړه منورپـــــه انوارو
ستادعـــــــــفو مقام پټ له هـــــــــره چاده
(ملا امیره )عـــــفوغـــــــواړه پـــه زارو[107]

***

زمـــــــــاپه زړه یاردعـــشق اورولګـــاوو[108]
بیایې روح راځخه یووړغـــــم یې نورولګاوو
خـــــوشحالي دزندګۍ راپوري غــــم شوه
غم یې دروند ده هجران زورپـــــرماپورولګاوو
دنفس باغ مي ســـــــــتادعشق په اورایره شو

---

[107] په مقطع کي لږ څه تصرف سوی دئ. په اصل کي داسي وه:
ستاد عفو مقام پټ له هره چاده زمادلبره
ملا امیره عفو غـــــواړه په ځړاوپه زارو

[108] شاعر (ولګاوو) دخپلي لهجې سره سم کښلی دئ او سنی لیکدود یې (ولګاوه) دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یک بینئ یکجهتئ بیا پرمــــــــازروولګاوو
مجوف زړګی مي ډک پـــــــــه سل فکرو و
دتوحید په نورشوډک عجب یې شـــورولګاوو
رقیبان حیران ولاړزمـــــــاوحـــــــــال ته
دتوحیدنـــــــورمي پیره په رقیب اورولګاوو
دمعشوق پـــــــه طلب سترې عـــــاشقان ده
(ملاامیر) مي په طلب ســـرپخپل ګورولګاوو

❋❋❋

راشئ مـــــــــومنانودخپل رب ثناګویي کوو
محکمه پرخپل دین شووبادشاه ته دوعاګویي کوو
راغــلي اروسان دي دوی وموږوته حیــران دي[109]
غیرت ددین به وکـــړوموږبه هم پهلواني کوو
حیات دي زموږبادشـاه وي کل اسباب برابروینم
قتل به کفارکړو مــوږپردوی شمشیربازي کوو
پرخلافت دچــاریاردي محکم زموږبادشاه وي
مغلوب دي کافـران شي چي پردوی موږغالبي کوو
بدبخته کافـــــــــــران دي نااميده له قرآن دي
فتح به خدای راکـــــړي دقرآن موږپیروي کوو
انګریزکه اروسان دي زمـوږجنګ څخه ترسان دي
مومنان ټول شیران دي اوس پردوی به چابکي کوو
ترســـــــان مي اروسان دي دلاوره مومنان دي
غــازیان منتظران دي موږدوی ته کارسازي کوو

---

[109] دامیرحبیب الله خان په وخت کي افغانستان ته دروسانودراتګ خبره له تاریخي مدارکو سره سمه نه خېژي. دشاعر مرادبه یاپه سیمه کي دبلشویکي نفوذ دخپرېدوخطروي اودی به یې دروس دتجاوزپه نامه تعبیروي اویابه نوپردرقدباندي دروسانو پوځي تېري ته اشاره وي. دغه واقعه دغازي امان الله خان د پاچهۍ په اووم کال پښبنه سوې ده (۲۷ قوس ۱۳۰۴ ش) اوپه دې ډول نوتردغه کاله پوري دشاعرژوندهم یقیني کېدلای سي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـــــفارکه هرخوړ پردي د دین عقل یې هېر دئ
بې جنګه بې نـه پرېږدو د خپل دین مورړغاوري کوو
قـــاتلان که مقتولان شو که پاته پرمیدان شو
سود منده مومنان دي (ملاامیره ) موعظي کوو

***

تــــــریوسف ډېرښایسته زمــــــوږپیغمبرو
ستاره ورته عـــاجـــــزشمس و قـــــمرو
غلبه دنــــــوريې تېره تـــــــهرـــــرچاوه
په خـــــــوبانو کښې څرګند لکه زیړلـــمرو
دوحدت له باغـــــــــه درخته راښکاره شوه
نه يې مـــــــثل پـــــــرزمین لکه نښترو
دکـــــمال پـــــــــه مېوه پره دغه درخته
مـــــــومنانو مي نوش کــــــړئ ښه ثمرو
شاکـــــــــران ددې مېوې بـــــه سـربلندوي
تورزاغـــــــان له دې مېوې څخه کــورکرو
مومنان دي خدای غـــافل په دین کښي نه کړي
غـــــــافلان لـــــــه خپله دینه ګاو و خـــرو
دطاعــــــت بارچي باباآدم پـــــــه شـــاکړ
مـــــــومنان بې[110] قبلــــــوي بارد پــدرو
مــــــــومني ده نیکنامي دعــــــقباګټه
مـــــومنانوتېنګه کـــــــــړه که مي ضررو
دنبي پـــــــــردین ثابت شــــــــه (ملاامیره )
سپې رقیب ثابته نه شــــــــولـــــوی خطرو

***

ته آئینه د شـــــــــــرع نســه[111] وخپل مخ تــه[112]

[110] بې = به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاعیبونه بــه ښکاره شي ته نیکبخته که بدبخته
ښـــــــه طاعت وبندګي دپاک الله کـــــړه
له ریا څخه ځـــــــان ســاته ،نفس بدبخته
ســــــره اورونه دي پــــــه لاس ددښمنانو
ستاطاعت وســـــــرومال سوځي یک لخته
ستاپه ښهرکښي ښه کـــــوته په دولت[113] ډکــه
بېغــــــــم نه شي دښمن ستاده په زړه سخته
که ولاړپــــــــرخپل کـــــــوته وي ترسهاره
اوس بادشاه یې ګـــویاناست یې پرخپل تخته
دتـــــــقوا تیغ پـــــــه لاس ونیسه محکمه
درایله به کي[114] دښمــــن ســــــــتاتخت وبخته
سرګـــــــــــــردانه له خپل نفسه ډېرعالم ده
(ملاامیره) جــهادي شه مې پرېږده ګرم وېخ ته

***

ددنیاکه جستجـــــــوی پرداجــــهان کــه[115]
که خدای هېروي آخـــــــــرت لره تاوان که
پـــــــرجــــــهان باندي ژړادیارلــــه حبه
داژړادمحبت دخـــــــــــدای دوستان که
چي دعشق په تبغ یې غــــــوڅ دزړګي سرشي
دفراق په اوښکوتـــــرځــــان وګرېوان که
دصادق عــــــــاشق ژړاده پخپل ځان کښي
که مخلـــــوق ته شي ظاهـــردځان نقصان که

---

111 نسه = نیسه

112 داغزل په اصل کي د(ت) په ردیف کي. ماد(هـ) ردیف ته رانقل کړه.

113 دولت دلته ددنیاپه معنا راغلی دئ.

114 کي = کړي

115 که = کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دین دنیا ســـــــره ضدین(دي ) هیڅ شک نشته
په یوه ځـــــــــای اوراوبـــــه کله مکان که
دادنیاکه پخپل فکــــــــــرګلستان کـــړي
عاقبت به یې خـــــراب دمـــــرګ خزان که
منزه دئ عشق دنفس له خـــــــــوی خصلته
دامشکل ده چي دیده څـــــوک بې چشمان که
جاهــــــلانـــــوپه دنیادین بدل کــــړی
ددنیاهـــــــبربده نـــــه که دین نسیان که
که داناېي پـــــــــرخپل سرنیسه لاســـونه
وجاهـــــل ته نصیحت ډیرعــــــالمان که
ناصحــــــان که نصیحت ددین بیان کــــړي
(ملاامیر) بـــــــــه یې قبول پردل وجان که

***

محبت دخــــــــــدای دوستان بې خدای نه که
په یوه زړه کښې بـــــــه دوه محبت ځای نه که
په ظاهـــــــــــروي له عـــــالم باطن له حقه
مشاهـــــــده یې له خــــــدایه بل رای نه که
چي توانګـــــــــردقناعت په خـــــــزانه شي
هیڅ ګــــــذربه دغنیانو په ســـــــرای نه که
احتیاجي بې خـــــــــپله ربه دبل نــــــــه که
روح وجـــــــــان به بې له خدایه فدای نه که
عـــــــــاشقان دي طالبان دیاردوصــــــل
که واصل شي ومعشوق تــــــه وای وای نه که
په کـــــــوڅه کښې دمعشوق حیران ولاړوي
خوښ خــــرم وي په حیرت کښې هم تلای نه که
حال وقـــــــــــال دي موافق شه ( ملاامیره )

(c) ketabton.com: The Digital Library



سالکان دي خــــدای خودبين خودنمای نه که

***

جــــــام دمی پیاپی نوش کړه ما په ذوقونه
زړه مي سوری لکه نی پـــــــه نغمواوازونه
یارزمـــــــابې وفا پـــــــه جفادئ عـالمه
نقصان کل زمـــــاخپل دګـــــناه دریابونه
یارمي ګل زه بلبل پـــــــه ژړاپسې مــــــرمه
دبلبل سينه تل تــــــرختلي خــــــــارونه
دلبري دلـــــــجويي رهبري دي غـــــوا ړمه
که ماخلاص په اخلاص کـــــړې دغم له بارونه
مــــــاغريب کــــــړه بعيدله شيطانه شديد
بدلـــــــوي سودايي پـــــــــه دنیاجنتونه
مامريد کــــــــړه قـــــريب دګلشن عندليب
ستاحبيب ســــــــتامجيب پرښندم سرمالونه
ښه جلال ښه جـــــــمال شين دي خال ده صنمه
پـــــــه ظهوردي خـــــــــراب دکفارو ملکونه
ستانظرشــــــــــوخنجرپـــــه مجروح مي ځګر
سپين دي غـــــــاښ وانوارپه روښان اسمانونه
ستاصــــــــــديق ستارفيق ترهــــــــمه وشفيق
يارغــــــــاردســـــــــرداردهجرت په مزلونه
پتهولـــــــو خـــــــوبان افضلين مي جانـــــان[116]
بهــــــــتري مهــــــــتري پـــــه آيات حديثونه
ستاابلـــــــــق ترفـــــــــرق وتېرشوی مطلق
نازبردار ، رازکــــــــــــــرداترجمله حجابونه

---

[116] دانيم بيتی په لږتصرف رانقل سوی دئ. په اصل کي داسي و :
پتولوخوبان پرماګران افضلين مي جانان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دابیان شـــــــوعیان د(امیر) پـــــــه زبان
خـــــــوش لسان درفشان دجـانان صفتونه

***

دعشق اورمي پـــــــرزړکي وکـــــړه پوښتنه
زمـــــاپرحال په چابکي وکـــــړه پوښتنه
شپېړداغـــــــونه عشق راکـــړي پرسینه دي
دازخـــــــمونه دمـــــرګي وکړه پوښتنه
ورنځـــــــورتــــه که دواددیدن ورکـــړې
زمـــــادواده پرهېزي وکـــــــړه پوښتنه
بیکاره غـــــلام دیاریـــــــــم ورته ژاړم
نن دغــــــلام پربېکاري وکـــــړه پوښتنه
هیڅ حاجت زمـــــــــاپه کاروخدمت نشته
زماژړایارخـــــوښوي وکـــــــړه پوښتنه
درقیب دلاسه ډېرپـــــــــه زړه غـــــمجن یم
نن زمـــــاپرغمګیني وکــــــــړه پوښتنه
عشق جـــــهازشوګډ یې کړم په محبت کښې
ته مــــــهربان شه پرغرقي وکـــــړه پوښتنه
(ملاامیر) پــــــه سپینه ږیره تل ژړاکــــــړي
راشه زمـــــــاپرغریبي وکـــــــړه پوښتنه

***

الماسي خنجرپــــــــه لاس زمـــــاددلبرده
عــــــاشقان پـــــه قتلـوي دایې هنرده
چي په برخه یې خـــــــــواري دسوزګدازشي
خـــــــودبه ژاړي چي زخمي یې دزړه سـرده
هـــــــغه څوک چي وي ببغم دیارله فکـــره
ســـــــړی نه ده پـــــــه مثال دګاوخـــرده

(c) ketabton.com: The Digital Library



د محبت پـــــه اوريې ســــــوى پـه كلونو
چي وصـــــــال را بانـدي راغى نن اختره ده
غـــــلامي مي په اخـــــلاص د كامل وکړه
اوس ماذون شوم د كامـــــــــل هسي نظره ده
وخـــــادم ته د مـــــــخدوم فيض رسيږي
هيڅ شک نشته د رســـــــــول د خولې خبره ده
عـــــاشقان (يې) وديدن ته هـــــــوسيږي
ځني پاتـــــــه نام وننګ وســـــيم وزره ده
صادقان د يارپـــــــه مينه هـــــغه څوک دي
چي پـــــــه لاس (يې) همېشه د عشق دفتره ده
عـــــامــــــلان د شريعت مي فايضين دي
پاک الله ځني راضي هـــــــــــــم پيغمبره ده
عـــــاشقان ترسرو مـــــــال ويارته تېر دي
چي ليدلي يې جانــــــان پـــه خپل بصره ده
ديارميني تورکـــــــــودى کړم په جهان کښي
خاكساري مي جـــــــــوړه کړي پرخپل سره ده
ګـــــمنامي لـــــــويه رتبه ده (ملا اميـــره)[117]
اختلاط د زمـــــــــاني ډېر شــــــــوروشره ده

***

که وصال د اشناى غــــــــواړې روځ دغه ده
بيا خه نه شي د مــــــــــــرګي سخته ناره ده
نن دي وارده چي راکب پـــــــرخپل مرکب يې
له مـــــــــــرکبه که شيوه شوې توره شپه ده
په تياره کښي څـــــوک رسيږي ومقصودته ؟
لــــــوى مثال د ئ نيکي واخله لاربنكاره ده

117 اصل: ګمنامي لويه رتبه ده ملا اميره فقيره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـــــــمبختان مي غـــــــافلان د يارله ذکره
لــــــــغزيده وي وخپل نفس تـه مسخره ده
پـــــــرهـــــــمت د زاهـــــــد انو آفرين شه
نفس شيطان يې پـــــــه عـذاب بنه تماشه ده
پيروي د پاک قـــــــرآن مـــــو په نصيب کړې
چي همېش زمور پـه خـــــــوله ورد و ظيفه ده
په نصيب مـــــــو شفاعت د پاک رسول کړي
پاک سبحان بې کي[118] خــوشحال کـړې وعده ده
له دې خپلې بـــــــدبختۍ څخه په عذاب يم
ګيله نشته پرهـــــــرچـــــامي توره شپه ده
هـــــــرعـــــاشق شيرين ګفتن شيرين زبانه
(ملاامير) مي درياشي ډکـــي[119] ســـــــينه ده

***

هغه څوک چي صادقـــــــان وي ستا په مينه
محبت بــي[120] هـــمېشه پـــــــرخپل يار وينه
اول حــــــال د سالک دادئ اې دروېـــــــشه
چي پـــــــه حب کي د خپل شيخ به فناه شينه
حقيقت د حب يې هلته ظـــــاهـــــــــــــرېږي
چي د پاک رســـــــول په شـــــرعه عمل وينه
دويم حــــــال دصادق داده په محبت کښي
چي د پاک نبي پـــــــه حب کښي فـــــناوينه
دريم حــــــال فنافي الله بــــــولي طالبه
بي له ياره مــــــاســـــــــواکل ترک وهينه

---

[118] بې کي = به يې کړي
[119] ډکي = ډکه يې
[120] بې = به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه عشق نه دئ بل خـــــــه دئ دروغ وايي
چي خالي به له دي دروحبو خـــــــوک وينه
هــــــــرچي لاردشـريعت يې وي پرې ايښې
رهــــــــبردده شيطان اورتــــي[121] ښکــــوينه
که باوردي پـــــــه آيات و حـــــديث کېږي
ملحدي پــــــه طـــــــريقت کښي ډېره وينه
هـــــــغه خوک چي مستقيم پـرشريعت شوه
پـــــــه سپين مــــــخ به آخرت لــره ورځينه
خـــــــدايه عشق مي برابرپرشـــــريعت کړې
چي مـــــــقام دمـــوحدی مي روزي شينه
(ملاامير) غــــــريب صادق کړې ستاپه مينه
امان راکـــــــــــړې په توحيد کښي له لعينه

❋❋❋

ستادهجران په اوروســــوی ارامي غوارمــــه[122]
زړه مي زخمي دا ستاله لاســـــه دوايي غوارمه
دوامي وصل دجانـــــــــان گنج نوري غوارمه
زه خوارمسکين يـم بي تسکين زه دلجويي غوارمه
ستادمحبت پـــــه درياب غرق صدف دري غوارمه
زه غواص تېر(يم) تـرخپل سر اجرت قوي غوارمه
له دواړو کـــــــــونويم بېغم روښندلي غوارمه
له پخته گانـومي حساب کړې گمنامي غوارمه
سيروسلـــــوک راباندي تېرشومقبولي غوارمه
نفس وشيطان مي دښمنان ستامــــهرباني غوارمه
زمــــــــامشرب دنقشبند پيرمجددي غوارمه

---

[121] اورتي = اورته يې
[122] دي غزل ته پرسرکښلي دي: مناجات فقيرملاامیرمحمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاچندبه ســـــــوزیمه نورمحمدي غواړمه
درعشق تـــوسوختیم دروصلت رهنمایي غواړمه
عـمرم عبث گذشت درطاعت عمرثاني غواړمه
پیرمي اولاددعــــــمریارپیرقریشي غواړمه
(ملاامیر)خواریږ دامنګیرزي[123] غـلامي غواړمه

***

په خـــــوبانـــوکښې کلانه راشه راشه
زمـــــادزړه محبه ګـــــرانه راشه راشه
پیروي دي قبلـــــوم پــــــردووچشمانو
ته يې نورزمـــــــــادچشمانه راشه راشه
زمادپیرنـــــــــوربه رهبرشي ستا ترنوره
ستانوربه شي رهبره تـرسبحانه راشه راشـه[124]
(دا)ستانـــــورده وسیله زمـاووصال ته
تــــه همېش پــــرخپل رب ګرانه راشه
مـــــحبت دیارافضل تــــردوه جـــهانه
ته يې زمـــــادزړه ارمــــانه راشه راشه
په کامل صفت موصوف تـــــرکل عالم يې
باطن نـــــورظاهـــــرانسانه راشه راشه
ستاامت هــــمیشه فـــــخرپه تاکاندي
تــــه ســــرداریې دنبیانه راشه راشه
ډېردي قـــــدرهــم حرمت پرخپل خالق ده
کامـــــل میره دخــــوبانه راشه راشه
کمینه امتي ســــتایم پاک رســــوله
زه (امیرمحمد ) ســــتادغلامانه راشه راشه

123 زي = زه يې
124 دغه بیت دريي ځپي زیات دئ. (هوتک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

عشق ســـــرسري نه ده چي له سره دي بدرشي
محبت عـــارضي نه ده چي له زړه څخه بدرشي
بيان دعشق كــــــومه وسالک ته يې ښيمه
مشتق لــه عشقيه دئ چي پيچان[125] پربل شجرشي
عشقيه مي هـــغه شی ده چي غالب شي پرګياه
ذات دګياه ورک شي عشقيه مي پـــراظهرشي
مثال دمومن داده كه انصاف لـــــري منصفه
كه عشق باندي غالب شي ترګياه (يې) حال بترشي
عشق ده په دوه قسمه ته يې زده کړه اې سالكه
يو مي رحــــماني بل شيطاني كه دي باورشي
شيطاني هغه تـه وايي چي نقصان دشريعت وي
ناري تجلي ويني پـــــه غلط مي ګاووخرشي
رحماني هــغه ته وايي چي پرشرع مستقيم وي
شــــوارق به دانوارفيوضات باندي مطرشي
تميزددې دووګــران دئ دخطرځای يې دغه ده
سالـــم به ترتېربږي هغه څوک چي بختورشي
زه (ملاامير) فقيريم په بيتوكـــــــړم بيانونه
محتاج زه دوعـــــايم كه پرماد خدای نظرشي

***

بدبخته زمانه شـــــــوه له طاعته غافلان دي
ودين ته يې شاكـــــړي په دنياپسي روان دي
بيدارشئ مومنانـــــــــولوی سفرلرئ په مخه
نكيرمنكربه درشي سـوال جواب يې په ايمان دي
كامل كه دي ايـــمان وهيڅ دي وېره خطرنشته

---

[125] عشق پيچان يوراز ګياه ده، چي پرنوروګلانوراتاوبږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راووزه ونیکی تــه بدعمل دي دځان زيان دي
فهم وکه (اې) مــــــومنه عاقبت دادنيا پاته
محصل دهــرچا مرګ دئ ځني پاته يتيمان دي
سپين زږه دي توربږي ګناهــــونه دي ډېربږي
صيقل (يې) اسم ذات ده شـريعت که پرراوړاندي
پنځه روځي ژوندون دئ عـــاقبت به روانېږو
ژاړه (ملا اميره) نـفس شيطان دي دښمنان دي

***

يوه درخته يې نهال کــــړه په قدرت کښـــي[126]
ځلورښاخ (يې) ورپيدا کـــــړه په زينت کښي
هر(يو) ښاخ له ګوناګـــــون مېوي څخه پرده
زاغــان ځني محروم بلبلان ګډ په وصلت کښي
بلبلان چي همېشه پـــرګل مين ملامت نه دي
معطريې دل وجـــــــان په حقيقت کښي
چي بلبل غـــــــوندي صادق په مينه نه شي
دامشکل ده چي به ګـــــډ شي په جنت کښي
ســـــاکنان دهغي درختي هـــغه ځوک دي
چي ترسروترمـــــال تېرشي په محبت کښي
مـــــــــثال ددرختي ذات دپاک حبيب ده
چاياران يې ځلـــــــورښاخه په قربت کښي
بلبلان مي عــــــاشقان دخدای دوستان دي
رب ورکړي خــــــوشحالي په آخرت کښي
زاغان مي کافـــــــــران منکرالحق دي
محرومي شــــــوله ورپېښه په خلقت کښي
پـــــه اول کښي مي ابيات مــــغلق ويلي

---

[126] داغزل په اصل کي د(ښي) په رديف کي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په آخريې معنى ګـــــوره په وضحت[127] کښيـــي
ربه ســـرو مال قـــــربان زمـــاترنبي کړي
(ملا امير) غريب غـــــلام تل په خدمت کښبي
عـــــاشقان ديار جــــــفا پرو فـــا بولي
(ملا امير) فقير مغموم ده پــــــه هجرت کښبي

***

دخپل اشـــــــــناى ديدن له تلمه په تلوار...
زه خبرنـــــــه وم چي پـــــه مخه رقيبان راځي
ديار دغم ګـــــردو غبار زمـــــاپرځان راځي
ديار له عشقه مي خـــوناب نن ترچشمان راځي
(را ) ميسربه وصــــــــال نه شي بې ژړا عالمه
دفـــــراق اوښکي مي بهيږي پرګريوان راځي
دادنياکه هـــــمګي ګل وګلـــــــــزار شي
عـــــاقبت به شي فنادمـــــرګ خزان راځي
څه دغم ژوندون يې زمـــــــاپه قسمت راکړ
بې له ياره دعشق دودمي تـــــــردهان راځي
زماپه اوښکـــــــــــوهيڅ اثرپرجانان نه شي
زمـــــــاپرحـــال نن په ژړا زمين اسمان راځي
سرګـــــــردان وپايدوان پــــــــردادنيايمه
ترک به نه کړم ستاطلب که هـــرخوزيان راځي
دجنت تـــــــرګلـــــو زياتي تـــــماشه ده
چي مستغرق شـــم ديارفيض لکه باران راځي
که وفانه کـــــړې نن دژوندرمـــــــق باقي ده
اوکه نه وي (ملا امير) غـــــريب ګريان راځي

***

[127] وضحت = وضاحت، څرګندتيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاجــــــفاده همېشه مــــــــــاژړوي
رقيبان پـــــه نصيحت مـــــــاخندوي
زه حيران يــــــم چي ژړاكــــــړم كه خنداكړم
نه پـــــوهېږم چي يارزمـــــــا څه خوښوي
دجـــــرس له حــــــاله حال زمامعلوم شو
تـــــرخنداز مـــــــاژړا يـــــــارقبلوي
دادنيادژړاځـــــــای چي ببغـــــم نه شي
ستاژړالـــــــــره اجـــــرت ياردركــــوي
داجـــــــرت حساب مي خپلــــه زندګي ده
عـــــاقبت دصــــــورت حجاب پاره كوي
دمحشرپـــــه روځ بـــه نيک وبدښكاره شي
دانايـــــــان مي نيک پـــــه بدنه بدلوي
آئينه دزړه صفاكـــــــړه له هـــــــــرزنګه
(ملااميره) خدای رحــــــــمان ده رحم كوي

***

عــــــاشقان دي بيماران پــــه زړه زخمي
ددېدن زكات غـــــــــواړي پــــه مسكيني
هيڅ حــــــاجت يي ددنيا په چـــــاره نه وي
نه پــــــــه كارېي وي جنت غـــلمان حوري
دخپل ياردېدن يي خــــــوښ تردوه جهان وي
قاسم كـــــــړی ښــــــه قسمت دئ ازلي
دتوحيددباغ مي هــــــــرعــــــاشق بلبل ده
ودي باغ تـــــه بل مــــــــرغـــه لارنه لري
دګلانـــــــوسيل بي بــــــــــهاره نشته
دديداررروځ لــــــــوی بـــــهارده كاملي
په نصيب دي ښه ديداريه لــــــــوی بهارشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ملاامیره ) جنت پرېږده ددیـــارشـــه محبتي[128]

❉❉❉❉

❉❉

❉

❉

❉

❉

[128] تردې غزلي وروسته دنسخې په پای کې د (زمامقصود ) رکاب راغلی دئ خونسخه پرهمدې ځای نیمګړې ده اوزه نه پوهېږم چې څوپاڼې به یې لوېدلې وي(م. هوتک ).

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**